# د ایمان اصول

لیکوونکی:


## شیخ الاسلام مجدد امام
## محمد بن عبد الوهاب
( رحمه الله تعالی)

شركاء التنفيذ:

دار الإسلام | جمعية الربوة | رواد الترجمة | المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.

Telephone: +966114454900
ceo@rabwah.sa
P.O.BOX: 29465
RIYADH: 11557
www.islamhouse.com

## باب دي په بيان د پېژندلو د الله تعالى کې او په هغه باندې ايمان راوړلو کې:

**1.** له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي :الله تعالى فرمايلي دي : **زه ډېر بې حاجته شريکوال يم د شرک نه (شريک ته اړتيا نه لرم)، چاچې يو کار وکړ او په هغه کې يې زما سره بل څوک شريک کړ نو پرې به يې ږدم زه دغه (کار او يا دغه کس لره )او د هغه شرک لره.**

(دا حديث) مسلم روايت کړی دی

**2.** او له ابو موسى رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي :رسول الله صلی الله عليه وسلم په مونږ کې ودرېدلو او دا پنځه خبرې يې وکړې:

**بېشکه الله تعالى نه وېده کيږي او نه هغه سره ښايي چې وېده شي، ښکته کوي تله او پورته کوي هغې لره، پورته کيږي هغه ته د شپې عمل مخکې**

**د ورځې د عمل نه، او د ورځې عمل مخکې د شپې د عمل نه، پرده يې رڼا ده، که چېرته يې لرې کړي نو خامخا وبه سوځوي شغلې (وړانګې) د رڼا د (بلا کيف مخ) د الله تعالى ټولو هغه څه لره چې د دې نظر ورته ورسيږي د دې د مخلوقاتو نه.**

(دا حدیث)مسلم روایت کړی دی

**3.** او له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی هغه روايت کوي د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه:

**ښي لاس د الله تعالى (د خير نه) ډک دی نه کموي دې لره خرچ کول، همېشه خرچ کول د شپې او د ورځې، خبر راکړئ (ايا تاسې پوهيږئ )!چې څومره يې خرچ کړي د هغه وخت نه چې اسمانونه او ځمکه يې پيداکړي دي؟ نو يقېنا دې خرچ کولو نه دي کم کړي هغه څه چې د ده په ښي لاس کې دي، او تله يې په بل لاس کې ده اوچتوي او ښکته کوي يې.**

دا حديث امام بخاري او امام مسلم روايت کړی.

**4.** او د ابو ذر- رضی الله عنه - څخه روايت دی هغه فرمايلي :پيغمبر صلی الله عليه وسلم دوه ګډان ولېدل چې يو بل يې په ښکرونو وهل، نو ويې فرمايل» :**آيا ته پوهيږئ چې دوی ولې يو بل په ښکرونو وهي، ای ابو ذره؟ «**ما ورته وويل :**نه،** رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل» :**لېکن الله تعالی پوهيږي او خامخا به د دې دواړو ترمنځ فېصله کوي.**

داحديث امام احمد روايت کړی دی.

**5.** او د ابو هريره- رضی الله عنه -څخه روايت دی چې ببشکه پيغمبر- صلی الله عليه وسلم -دا آيت ولوست **﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا﴾]** تر دې ځايه پورې :[**﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا﴾** [النساء:٥٨] او خپلې دواړه غتې ګوتې يې

په خپلو غوږونو کې کېښودلې او د شهادت ګوتې يې په خپلو سترګو کېښودلې.

دا حدیث امام ابو داود او ابن حبان او ابن أبی حاتم روایت کړی.

**6.** او د عبد الله بن عمر- رضی الله عنهما -څخه روایت دی چې بېشکه رسول الله- صلی الله علیه وسلم -فرمايلي:

**د غیبو کونجیاني (کبلیانې) پنځه دي چې په هغو باندې پرته له الله تعالی نه بل هېڅوک نه پوهیږي : د سبا په کارونو باندې نه پوهیږي مګر الله تعالی، او نه پوهیږي په هغه څه باندې چې رحمونه د مبندو يې کموي مګر الله تعالی، او هیڅوک نه پوهیږي چې باران به کله کیږي مګر الله تعالی، او هیڅ یو کس ته پته نه لږي چې په کومه ځمکه به مړ کیږي مګر الله تعالی ته، او هېڅوک نه پوهیږي چې قیامت به کله وي مګر الله تعالی پوهیږي.**

دا حديث بخاري او مسلم روايت کړی دی.

**7.** او د انس بن مالک- رضی الله عنه -څخه روايت دی هغه فرمايي :رسول الله- صلی الله عليه وسلم -فرمايلي دي: **ببشکه الله تعالی ډير خوشحاليږي د خپل بنده په توبه باندې کله چې ورته توبه وباسي د يو کس ستاسې نه چې هغه په خپله سورلۍ باندې په يوه شړه صحرايي ځمکه کې وي، نو د هغه نه خپله سورلۍ وتختي او په دې باندې د هغه خوراک او څښاک وي نو دا انسان د هغې نه مايوسه شي، نو د يوې ونې ببخ ته راشي او د هغې د سيورې لاندې وېده شي په داسې حال کې چې هغه د خپلې سورلۍ نه نا امېده شوی وي، نو دا په دغه (بد) حالت کې وي چې نا څاپه د هغه سورلۍ د هغه په خوا کې ولاړه وي، نو د هغې واګي راونېسي او د ډېرې خوشحالۍ نه داسې ووايي :يا الله !ته زما بنده يې او زه دې رب يم، د ډېرې خوشحالۍ د وجې نه خطا شي.**

دا حديث امام بخاري او امام مسلم روايت کړی.

**8.** او له ابو موسی- رضی الله عنه -څخه روایت دی بېشکه رسول الله- صلی الله علیه وسلم -فرمايلي: **بېشکه الله تعالی را اوږدوي خپل لاس د شپې له خوا د دې لپاره چې توبه وباسي هغه څوک چې د ورځې ترې ګناه شوي وي، او را اوږدوي لاس خپل د ورځې د دې لپاره چې توبه وباسي هغه څوک چې د شپې ترې ګناه شوي وي تر هغه وخته پورې چې کله لمر د مغرب (لوېديځ) له طرفه راوخېژي.**

(دا حدیث) مسلم روایت کړی دی.

**9.** او امام بخاري او مسلم روایت نقل کړی د عمر - رضی الله عنه -څخه هغه فرمايي: **رسول الله- صلی الله علیه وسلم -ته د هوازن قبيلې بنديان راوستل شول، نو په دوی کې يوې ښځې منډې کړې کله چې يې يو ماشوم په دې بنديانو کې ولېده نو راوايې خبست او خپلې سينې ته يې جوخت کړ**

**او تی (شپېدې) یې ورکړې**، نو پیغمبر- صلی الله علیه وسلم -وفرمایل : **((آیا تاسې څه وایئ چې دا ښځه به خپل زوی په اور کې وغورځوي؟))!** مونږ. وویل : **قسم په الله هیڅکله نه !نو هغه وویل : ((بېشکه الله تعالی ډېر مهربان دی په خپلو بندګانو د دې ښځې نه په خپل بچې باندې)).**

**10.** له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه فرمایي : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**[الله تعالی چې کله مخلوقات پیدا کړل نو د ځان سره یې په لوح محفوظ کې ولیکل نو دغه کتاب د هغه سره د عرش دپاسه دی :بېشکه زما مهرباني او رحمت زما په غضب باندې غالب دی]**

دا حدیث امام بخاري روایت کړی دی.

**11.** او امام بخاري او مسلم د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت کړی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**[الله تعالی رحمت سل برخي کړی، نو نهه نوي برخې يې د ځان سره ساتلي او يوه برخه يې ځمکې ته رالیږلی، نو د دغې يوې برخې په وجه خلق په يو بل باندې رحم او مهرباني کوي، تر دې چې يو چارپايې خپله پښه د خپل بچي نه پورته کوي هسې نه چې خوږ يې نه کړي].**

**12.** او په صحيح مسلم کې د دې حديث په شان معنی شته چې هغه حديث سلمان فارسي- رضی الله عنه -روايت کړی، او په هغه کې دي: **[هر يو رحمت يې ډکوونکی دی اسمان او ځمکې منځ لره]** **او په دې حديث کې دي [نو چې د قيامت ورځ شي نو په دې رحمت او مهربانۍ سره به يې پوره کړي].**

**13.** او د انس- رضي الله عنه -څخه روايت دی هغه فرمايي : رسول الله- صلی الله عليه وسلم - فرماېلي:

**[کله چې کافر يوه نېکي وکړي نو هغه لره به د هغه بدله په دنيا کې ورکړل شي، او هر چې مومن دی نو ببشکه الله تعالی ده لره د ده نېکیانې د اخرت لپاره جمع کوي، او په بدله کې ورله په دنيا کې ښاېسته رزق ورکوي].**

(دا حديث) مسلم روايت کړی دی

**14.** او امام مسلم د انس رضي الله عنه مرفوع روايت نقل کړی

**[ببشکه الله تعالی له يو بنده څخه رضا کېږي پدې چې يو خوراک وکړي نو په هغه د الله تعالی شکر**

**وباسي، او یو ګوټ اوبه وڅښني نو په هغې د الله تعالی شکر وباسي].**

**15.** او د ابو ذر رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمايي : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:

**اوازونه کوي اسمان او پکار ده ورله چې اوازونه وکړي ځکه چې نشته پدې کې د څلورو ګوتو په اندازه ځای مګر په دې کې یو ملایک الله تعالی ته په سجده پروت دی، قسم په الله تعالی که چېرته تاسې پوهبدلی په هغو حالاتو چې زه پرې پوهېږم نو تاسې به لږ خندلی وی او ډیر به مو ژړلی وی، او تاسې به د خپلو بیبیانو نه په بېسترو کې خوندونه نه وی اخېستلی، او تاسې به صحراګانو او ډاګونو ته راوتلي وئ الله تعالی ته به مو چغې او فریادونه کولی.**

دا حدیث امام ترمذي روایت کړی او ویلي یې دي : دا حدیث حسن دی.

**.16** او امام مسلم د جندب رضي الله عنه مرفوع روايت نقل کړی:

**[يو سړي وويل :په الله تعالی مې دې قسم وي چې هېڅکله به الله تعالی فلانکي ته بخښنه ونه کړي، نو الله تعالی وفرمايل :څوک دی هغه کس چې په ما قسم کوي چې زه فلانکي ته بخښنه نه کوم؟ بېشکه ما هغه ته بخښنه کړې او ستا عمل مې برباد کړی].**

**.17** او امام مسلم د ابو هريره رضي الله عنه نه مرفوع روايت نقل کړی:

**[که چېرته مسلمان ته د هغو سزاګانو پته ولږي چې کومې د الله تعالی سره دي نو هيڅوک به د هغه د جنت تمه ونه کړي، او که چېرته کافر ته د هغه د رحمت او مهربانۍ پته ولږي کومه چې د**

**الله تعالی سره ده نو هيڅوک به د هغه جنت ته د ننوتلو څخه نا امېده نه شي].**

**18.** او امام بخاري د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت نقل کړی هغه فرمايي :رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**[جنت ډير نږدې دی يو کس ته ستاسې نه د هغه د بوټانو د مزې نه، او اور هم همدغسې دی].**

**19.** او ابو هريره رضي الله عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه نقل کوي:

**[ببشکه يوه بد کاره زنانه وه چې يو سپې يې په ګرمه ورځ کې ولېد چې د يو کوهي غاړې ته تاوېده او د تندې له امله يې ژبه راوېستلې وه، نو هغې زنانه خپله پنه ووېستله او دې سپې لره يې په کې د کوهي نه اوبه ورکړې نو الله تعالی دې زنانه ته پدې وجه بخښنه وکړه].**

20. او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي :**[اور ته يوه زنانه د يوې پيشو له امله ننوتله چې هغه يې بنده کړې وه، نه يې خوراک ورکاوه، او نه يې پريښودله چې د زمکې له حشراتو نه خوراک وکړي].**

زهري رحمه الله فرمايلي : **دا د دې لپاره چې څوک د الله تعالى په رحمت باندې ځان ونه سپاري او عمل کول پرېږدي (يعنې يوازې په الله ج په توکل بسنه وکړي) او نه څوک د الله تعالى د رحمت نه نا امېده شي.**

دا حديث امام بخاري او امام مسلم روايت کړى.

21. او ابو هريره رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت کړى:

**زمونږ رب هغه قوم ته تعجب کوي چې جنت ته په ځنځيرونو (تړلي) راښکل کيږي.**

دا حديث امام احمد او بخاري روايت کړى.

22. او د ابو موسی اشعري رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرماېي :رسول الله صلی الله عليه وسلم فرماېلي دي :**[او نه دی هيڅوک ډير صبرناک په اورېدلو د بدو خبرو کې چې اوري ئې د الله تعالی نه، دا خلک هغه لره نازولی او زوی رابلي خو هغه يې بيا هم بخښي (د مصيبتونو نه يې ژغوري) او روزي ورکوي].**

دا حديث امام بخاري روايت کړی دی

23. او امام بخاري د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت رانقل کړی هغه فرماېي :رسول الله صلی الله عليه وسلم فرماېلي دي:

**[بېشکه الله تعالی چې کله د يو بنده سره مينه وکړي نو اواز وکړي :ای جبريله ! بېشکه الله تعالی فلانکی خوښوي نو ته يې هم خوښ کړه، نو د جبريل هم خوښ شي، بيا جبرېل په اسمان کې اواز وکړي :بېشکه الله تعالی فلانکی خوښوي نو تاسې يې هم خوښ کړئ، نو ټول د اسمان والا يې**

**خوښ کړي، او د ځمکې والاو په زړونو کې ورسره هم مېنه کېښنودل شي].**

**24.** او د جرير بن عبد الله البجلي رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي :مونږ يوه ورځ د پېغمبر صلى الله عليه وسلم سره ناست وو چې ناڅاپه يې د څوارلسمې شپې سپوږمۍ ته وکتل ويې ويل:

**[بېشکه تاسې به خپل رب داسې وينئ لکه څنګه چې دا سپوږمۍ وينئ چې تاسو ټيل ماټيل نه کوئ د يو بل سره د دې په لېدلو کې يا ضرر او تکليف نه دررسيږي تاسې ته د دې په لېدلو کې، نو که چېرته ستاسې وسع او طاقت رسيږي چې غالبه شئ په لمانځه کولو باندې مخکې د راختلو د لمر نه او مخکې د پرېوتلو د لمر نه نو دا کار وکړئ]،** بيا يې دا آيت ولوست : **﴿وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا﴾**

يعنې :او بيان کړه پاکي د رب خپل مخکې د لمر له راختلو او وروسته د لمر له پريوتلو څخه .
[سورت طه آيت نمبر :١٣٠].

دا حديث امام بخاري، مسلم، ابو داود، نسائي، ترمذي، ابن ماجه او احمد بن حنبل روايت کړی.

**.25** او له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې ببشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

**[ببشکه الله تعالى فرمايلي :چا چې دښمني وکړه زما د ولي سره نو بېشکه ما دې کس ته د جنګ اعلان کړی، او نه رانيږدي کيږي ما ته زما يو بنده په يو عمل سره چې هغه ډير غوره وي ما ته د ادا کولو د فرايضو نه په هغه باندې، او همېشه وي زما يو بنده چې ما ته په نفلونو باندې ځان رانږدې کوي تر دې چې زه هغه خوښ کړم، نو کله چې هغه زه خوښ کړم نو زه د هغه غوږونه شم هغه چې اورېدل پرې کوي، او د هغه سترګې شم هغه چې لېدل پرې کوي، او د هغه لاس شم هغه چې نيول پرې کوي، او د هغه پښه شم هغه چې تلل پرې کوي، او که زما نه څه وغواړي نو**

**زه يې خامخا ورکوم، او که په ما پورې پناه ونېسي نو زه ورته خامخا پناه ورکوم، او هېڅکله زه متردد شوی نه يم په يو کار کې چې زه يې کووم په شان د متردد کېدلو زما په وخت د ساه اخېستلو زما د مومن بنده نه، چې هغه مرګ بد ګڼي او زه د هغه خپه کېدل بد ګڼم خو دا کار خامخا کېدونکی دی].**

دا حديث امام بخاري روايت کړی دی.

**.26** او د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې ببشکه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمابلي:

**[زمونږه رب تعالی هره شپه د ځمکې آسمان ته را کوزيږي(څرنګه چې د هغه له شان سره بنايې( هغه وخت چې د شپې دربيمه وروستنی برخه پاتې شي، او فرمايي :څوک شته چې له ما څخه دعا وغواړي چې ورته يې قبوله کړم، څوک شته چې له ما څخه سوال وکړي، چې ورېې کړم، څوک**

**شته چې له ما څخه بخښنه وغواړي، چې بخښنه ورته وکړم].**

دا حديث امام بخاري او امام مسلم روايت کړی.

**27.** او د ابو موسى اشعري رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي :رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**[دوه جنتونه د سرو زرو دي لوښي د هغوی او هر هغه څه چې په هغوی کې دي، او دوه جنتونه د سپين زرو دي لوښي د هغوی او هر هغه څه چې په هغوی کې دي، او د دې جنتيانو او د دوی خپل رب ته د کتلو تر منځ په جنتونو د همېشوالي کې هېڅ حايل او پرده نشته مګر صرف د تکبر او لويې ځادر دی د هغه په مخ باندې].**

دا حديث امام بخاري روايت کړی دی

باب دی د الله تعالى د دې وينا باره کې : ﴿حَتَّىٰ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمْ قَالُوا مَاذَا قَالَ رَبُّكُمْ ۖ قَالُوا الْحَقَّ ۖ وَهُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ﴾ [سبأ:23]

یعنې : تر هغه پورې چې تر څو د دوی له زړونو څخه ویره پورته کړی شي ( په خپلو منځونو کې) چې څه (حکم) وفرمايل رب ستاسو، نو وايي دوی چې حق يې وفرمايل او همدغه (الله) ډير پورته او ډير لوی دی.

**28.** د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه فرمايي :ما ته د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د انصارو ملګرو څخه يو کس بيان کړی چې دوی يوه شپه د پيغمبر صلى الله عليه وسلم سره ناست وو چې ناڅاپه په ستورې باندې وبشتل وشو نو رڼا ترې اوچته شوه، نو پيغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

**(کله چې به داسې وشو تاسې به څه ويل؟)**

هغوی وفرمايل :**مونږ به ويل :نن شپه يو غټ انسان پيدا شو او يا يو غټ انسان مړ شو.**

نو پيغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل : **[دا د چا د مرګ او يا پيدايښت له وجې نه وبشتل کيږي بلکې کله چې زمونږ رب د يو کار فيصله او حکم وکړي نو د عرش باروونکي ملايکې د الله تعالی**

**پاکي بيان کړي (سبحان الله ووايي( تر دې چې په دوی پسې چې د اسمان والا کوم مخلوقات دي هغوی هم د الله تعالی پاکي بيان کړي(سبحان الله ووايي(، تر دې چې دا ثنا وېل اخرني اسمان والا ته ورسېږي، نو د عرش باروونکو ملاېکو سره چې کوم نږدې مخلوق دی هغوی ترې پوښتنه وکړي چې :ستاسې رب څه ووېل؟ نو هغوی يې خبر کړي په هغه څه چې الله تعالی وېلي وي، نو پوښتنه وکړي د اسمان والا بعضي د بعضو نورو نه تر دې چې دا خبر د اخري اسمان والاو ته ورسېږي نو پېريان (شيطانان( غوږ کيښودنه وکړي او دغه خبرې پټې واورې نو هغوی يې خپلو دوستانو ته راورسوي، نو هغه څه چې هغوی يې په سمه توګه راورسوي نو هغه حق دي خو لېکن دوی خبره وېشي او زياتوي يې].**

دا حديث امام مسلم، ترمذي او نسائي روايت کړی.

**29.** او د نواس بن سمعان رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرماېي :رسول الله صلی الله علیه وسلم فرماېلي دي:

**[کله چې الله تعالی وغواړي چې د یو کار امر وکړي پس وحی وکړي نو اسمانونه یوه لړزه ونېسي (په دې ځای کې د راوي شک دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د- رجفة -لفظ ویلی، او که- رعدة -یې ویلی) د الله تعالی د ویرې له وجې،- نو کله چې دا وحی د اسمانونو والا واوري ټول بې هوشه شي - او یا یې داسې ویلي :ټول الله تعالی ته په سجده پرېوځي، نو اول هغه څوک چې سر راپورته کړي هغه جبریل علیه السلام وي، نو الله تعالی ورته د خپلې وحې نه هغه څه ووایې چې غواړي یې، بیا جبریل علیه السلام په ملاېکو باندې تېرېږي، نو په هر یو اسمان چې تېرېږي د هغه اسمان ملاېکې ترې پوښتنه کوي :زمونږ رب څه وویل ای جبریله!؟ نو هغه ورته ووایې :الله تعالی حق خبره وکړه او هغه اوچت او لوی ذات دی، نو ټولې**

**ملاېکې د جبريل عليه السلام په شان خبره وکړي، پس جبريل عليه السلام وحی هغه ځای ته ورسوي چې کوم ځای ورته الله تعالی امر کړی وي].**

دا حديث ابن جرير، ابن خزيمة، طبراني او ابن أبی حاتم روايت کړی او دا لفظ د ابن أبی حاتم دی.

******

باب دی په باره د الله تعالی د دې قول کې : ﴿وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمَاوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ ۚ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾ [الزمر :67]

ترجمه : [او دغو (مشرکانو) د الله تعظيم ونه کړ د هغه حق تعظيم، حال دا چې ځمکه ټوله د ده په قبضه کې ده د قيامت په ورځ کې او اسمانونه د ده په ښي لاس کې رانغاړل (راټول کړی) شوي دي، ده لره پاکي ده او هغه ډېر اوچت دی له هغو ځيزونو نه چې دوی يې (له هغه سره) شريکوي].

**30.** او د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي :ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې ويل يې:

**[الله تعالی ځمکه په موټي کې راټولوي، او اسمان په خپل ښي لاس کې رانغاړي، بیا وايي :زه حقیقي بادشاه یم، هغه د دنیا بادشاهان څه شول؟]**

دا حدیث امام بخاري روایت کړی.

**31.** او امام بخاري د عبد الله بن عمر- رضی الله عنهما -څخه روایت کړی هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي چې هغه فرمایلي دي : **[بیشکه الله تعالی د قیامت په ورځ ځمکې په خپل موټي کې راټولوي او اسمانونه به یې په ښي لاس کې وي بیا به داسې وایي :زه حقیقي بادشاه یم].**

**32.** او په بل روایت کې د هغه نه داسې دي [بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم په منبر باندې یوه ورځ دا آیت ولوست : **﴿وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمَاوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ ۚ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾**

ژباړه :او دغو (مشركانو) د الله تعظيم ونه كړ د هغه حق تعظيم، حال دا چې ځمكه ټوله د ده په قبضه كې ده د قيامت په ورځ كې او اسمانونه د ده په ښي لاس كې رانغاړل (راټول كړى) شوي دي، ده لره پاكي ده او هغه ډېر اوچت دى له هغو څيزونو نه چې دوى يې (له هغه سره) شريكوي .
او رسول الله صلى الله عليه په خپل لاس داسي اشارې كولې چې خوځاوه يې او مخكې وروسته كاوه يې :((الله تعالى خپله پاكي بيانوي داسې وايې زه زورور يم زه لويې كوونكى يم زه په هر څه غالب يم زه سخي يم ((نو په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې منبر ولړزېده تر دې چې مونږ وويل چې ګويا كې راغورځېږي پرې].
داحديث امام احمد روايت كړى دى

.33 او امام مسلم د عبيد الله بن مقسم نه روايت كړى چې هغه عبد الله بن عمر رضي الله عنهما ته

وکتل چې هغه څنکه د رسول الله صلى الله عليه وسلم طرېقه کوي -هغه ووېل:

**[الله تعالی به خپل آسمانونه او ځمکې په خپلو دواړو لاسونو کې په موټي کې روانبسي، نو وبه وايې :زه حقيقي بادشاه يم، او خپلې ګوتې راټولوي او خوروي يې، او وايې به :زه حقيقي بادشاه يم، تر دې چې ما منبر ته وکتل چې د لاندې څخه ټول خوځېده، تر دې چې ما وېل :آيا دا منبر په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې راغورځېدونکی دی؟].**

**.34** او په صحيح بخاري او صحيح مسلم کې راغلي دي، د عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي :رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمابلي دي:

**[زيری قبول کړئ ای د تميم قبيلې والاو. هغوی** ووېل **:ببشکه تا په مونږ زيری وکړ، نو خبر راکړه چې څه دي.**

رسول الله صلى الله وسلم وفرماېل :**زيرى قبول كړئ اى د يمن والاو.**

هغوى ووېل :**مونږ زيرى قبول كړ، نو مونږ ته خبر راكړه د دې كار د شروع باره كې؟.**

هغه ووېل :**((الله تعالى د هر څه نه مخكې و او د هغه عرش د اوبو دپاسه و، او په لوح محفوظ كې يې د هر يو شي ياداشت لېكلى)).**

**35.** عمران بن حصين رضي الله عنه فرماېي : په ما پسې يو څوک راغې راته يې ووېل :**اى عمران !اوښه دې د پړي نه خلاصه شوې.**

هغه وايې :**پس زه په هغې پسې ووتلم، نو زه نه پوهېږم چې زما نه وروسته بيا څه وشول (يعني : رسول الله صلى الله عليه وسلم څه ووېل)**

او د جبير بن محمد بن جبير بن مطعم نه روايت دى هغه روايت كوي د خپل پلار نه د هغه پلار روايت كوي د هغه د نېكه نه هغه فرمائې :يو بانډه

چي سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی نو ویې وېل :ای د الله تعالی پیغمبره **!خلک سخت په تکلیف کې شول، او بچي در په در شو، او مالونه مو کم شول، او څاروي مو هلاک شول، نو مونږ لره د خپل رب نه د باران دعا وکړه، نو مونږ سپارش کوو په تا سره الله تعالی ته او په الله تعالی سره سپارش کوو تاته.**

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرماېل:

**الله دې پر تا ورحمیږي :آیا ته پوهیږې چې ته څه وایې؟ او رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی پاکي بیانول شروع کړل تر دې چې د هغه د ملګرو په مخونو کې د هغه اثرات ښکاره شول،** بیا یې وویل **:الله دې پر تا ورحمیږي، بېشکه سپارش نشي کېدلی د الله تعالی په ذات باندې د هغه هیڅ یو بنده ته، بېشکه د الله تعالی شان د دې نه ډیر لوی دی، هلاکت دې وي تا لره آیا ته پوهیږې چې الله تعالی څه دی؟ بېشکه د هغه عرش د آسمانونو دپاسه داسې دی او په خپلو ګوتو یې داسې اشاره**

**وکړه لکه یوه ګنبد په هغه باندې، او بېشکه دا داسې اواز کوي لکه یو انډي باندې چې څوک ناست وي او هغه اوازونه کوي].**

دا حدیث امام احمد او ابو داود روایت کړی.

**.36** او د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه فرمایي :رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

[الله تعالی فرمایلي دي : **بنی ادم ما ته د دروغو نسبت کړی او هغه لره دا مناسب نه و او ما ته کنځلې کړي او هغه لره دا کول نه و پکار، هر چې د هغه ما ته د دروغو نسبت دی نو هغه دا دی چې هغه وایې :الله تعالی ما بېرته د اول ځل په شان نشي راژوندی کولی، او اول پیدایش د دوباره پیدایش نه اسان ندی، او هر چې د هغه کنځل کول دي ما ته نو هغه دا دي چې وایې :الله تعالی ځان لره نازولی نبولی، او حال دا چې زه یوازې بې نیازه ذات یم داسې ذات چې نه یې څوک زیږولي**

**او نه د چا نه پيدا دی او نشته هغه لره هيڅوک هم مثل (د هغه په شان).**

**37.** او عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په روايت کې دي:

**[نو هر چې د هغه کنځل کول دي ما ته نو هغه دا دي چې وايې :زما نازولي دي، او پاک يم زه د دې نه چې زه دې ځان لره ښځه او نازولی ونيسم].**

دا حديث امام بخاري روايت کړی.

**38.** او امام بخاري او امام مسلم د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت کړی هغه فرمايي :

رسول الله صلى الله عليه فرمايلي دي:

**[الله تعالی فرمايلي :ضرر او تکليف رارسوي ما ته بني آدم په کنځلو کولو سره زمانې ته، او حال دا چې زه اړووم راړووم زمانې لره زما په لاس کې واک او اختيار د هر يو کار دی اړووم راړووم شپې او ورځې لره].**

******

## باب دی په باره د ایمان لرلو په تقدیر باندې

او دا وینا د الله تعالی: **﴿إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُم مِّنَّا الْحُسْنَىٰ أُولَٰئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ﴾** (101)

بېشکه هغه کسان چې هغوی ته زمونږ له طرفه نیکمرغي مخکې فیصله شوې، دغه کسان له دغه (دوزخ) نه لرې کړی شوي دي . [الأنبياء :آیت نمبر ۱۰۱].

او د الله تعالی دا قول : **﴿مَّا كَانَ عَلَى النَّبِيِّ مِنْ حَرَجٍ فِيمَا فَرَضَ اللَّهُ لَهُ ۖ سُنَّةَ اللَّهِ فِي الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلُ ۚ وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ قَدَرًا مَّقْدُورًا﴾** (38)

او دی حکم د الله تعالی تقدیر مقرر کړی شوی [الأحزاب :۳۸ آیت]

او د الله تعالی دا قول: **﴿وَٱللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ﴾**

[او الله تعالی پیداکړي یاست تاسې او ستاسې عملونه] [الصافات 96 :آیت.]

او د الله تعالی دا قول :**﴿إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ ﴾** (49)

ببشکه مونږ هر یوشي لره پیداکړی په اندازې سره [سورت القمر :آیت نمبر ۴۹].

**39.** او په صحیح مسلم کې روایت دی د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه هغه فرمایي :رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمابلي دي:

**[ببشکه الله تعالی لبکلی تقدیر د ټولو مخلوقاتو د آسمانونو او زمکي د پیدایښت نه پنځوس زره کاله مخکې، ویلي یې دي :او د هغه عرش د اوبو دپاسه و].**

**40.** او دعلي بن أبي طالب رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي :رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمابلي دي:

**(نشته هیڅ یو کس ستاسې څخه مګر لبکل شوی د هغه ځای د ورتلو د اور او ځای د ورتلو د جنت نه)** صحابو کرامو وفرمابل :**ای د الله تعالی پیغمبره !نو آیا مونږ ولې ځان خپل تقدیر ته نه**

**سپارو او عمل کول پرېږدو؟!** رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل:

**((تاسې عملونه کوئ نو پس هر چا ته آسانه کېدونکي دي هغه څه چې دې ورله پیدا شوی دی، نو هر هغه څوک چې د نېکبختانو له ډلې څخه وي نو هغه ته به د نیکانو عملونه کول اسانه کیدای شي، او هر هغه څوک چې د بدبختو له ډلې نه وي، نو هغه ته به د بدبختانو د عمل کولو لار آسانه کیدلی شي،** او بیا یې دا آیتونه ولوستل :[نو هر هغه څوک چې ورییې کړ حق او تقوی یې اختیار کړه (۵) او ریښتیا ئې وګڼله ښاپسته خبره (۶) نو خامخا اسانه به کړو هغه ته لار د آسانۍ] .[اللیل : ۵-۸]

دا حدیث امام بخاري او امام مسلم روایت کړی.

**41.** او د مسلم بن یسار الجهني نه روایت دی هغه وایې چې :[د عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه د دې آیت باره کې پوښتنه وشوه :﴿**وَإِذْ أَخَذَ**

**رَبُّكَ مِن بَنِي آدَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ﴾** او كله چې واخيسته رب ستا له بنی آدم ( انسانانو ) د شاګانو د هغوی نه اولاد د هغوی . [الأعراف :١٧٢] نو عمر رضي الله عنه وفرمايل :ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې د دې باره کې ترې پوښتنه وشوه، نو هغه وفرمايل:

**بېشکه الله تعالی آدم عليه السلام پيداکړو بيا يې د هغه په ښا باندې خپل ښی لاس راکاږه، نو د هغه نه يې اولاده راووېسته،** او ويې فرمايل:

**دا مې د جنت لپاره پيدا کړي او د جنتيانو عملونه به کوي، بيا يې د هغه ښا مسحه کړه نو نوره اولاده يې ترې راووېسته، او ويې فرمايل :دا مې د اور (دوزخ) لپاره پيدا کړي او د دوزخيانو عملونه به کوي** نو يو سړي ووېل **:ای د الله تعالی پيغمبره !نو مونږ بيا دا عملونه ولې کوو؟**

نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل **:بېشکه الله تعالی چې کله يو بنده د جنت لپاره پيدا کړي نو د جنتيانو د عملونو توفيق ورکوي تر دې چې د**

**جنتیانو د عملونو څخه په یو عمل وفات شي نو په هغه سره يې جنت ته داخل کړي، او کله چې یو بنده د اور (دوزخ( لپاره پیداکړي نو د اور والا د عمل کولو توفیق ورکړي تر دې چې د دوزخیانو د کارونو څخه په یو کار باندې وفات شي نو دوزخ ته يې داخل کړي].**

دا حدیث امام مالک او حاکم روایت کړی او حاکم ویلي:دا سند د مسلم په شرط صحیح دی.

او ابو داود په بل سند سره د مسلم بن یسار نه هغه د نعیم بن ربیعه نه هغه د عمر رضي الله عنه نه روایت کړی.

**.42** او اسحاق بن راهویه فرمایلي :مونږ ته بقیة بن الولید حدیث بیان کړی، هغه فرمایې :ماته زبیدي محمد بن الولید خبر راکړی، هغه د راشد بن سعد نه روایت کړی هغه د عبد الرحمن بن أبي قتاده څخه روایت کړی هغه د خپل پلار نه روایت کوي هغه د هشام بن حکیم بن حزام نه روایت کړی

[ببښکه يو سړي ووېل :ای **د الله تعالی پېغمبره !آيا عملونه د اوس نه شروع کيږي او که تقدير د پخوا نه لېکل شوی؟** نو هغه وفرماېل:

**ببښکه الله تعالی چې د آدم عليه السلام اولاده د هغه د شا نه راووېستله نو په خپلو ځانونو يې ترې ګواهي واخېستله، بيا يې دوی په خپلو ورغوو کې راخواره کړل،** نو ويې وېل **:دا خلک د جنت لپاره دي او دا خلک د دوزخ لپاره دي، نو د جنت والا ته اسانه کېدلی شي د جنتيانو عملونه، او د دوزخ والاو ته اسانه ګرځولی شي د اور والا کار].**

**43.** او د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمائي :مونږ ته رسول الله صلی الله عليه وسلم بيان کړی او هغه ريښتيا ويونکی تصديق کړل شوی دی:

**[ببشکه يو کس ستاسې نه راجمع کېدلی شي پيدايش د هغه د مور په خېټه کې څلوېښت ورځې نطفه وي، بيا د دې په شان د غوښې تکړه وي،**

**بيا د دې په شان کرپندوکی وي، بيا ورته الله تعالی يو ملايک په څلورو خبرو راوليږي :نو د هغه عمل وليکل شي او د مرګ نيټه يې وليکل شي او د هغه په دنيا کې رزق وليکل شي او د هغه نيکبختي او يا بدبختي وليکل شي، بيا پکې ساه (روح) واچول شي، نو قسم مې دي وي په هغه ذات چې نشته لايق د بندګۍ په حق سره پرته له هغه نه بيشکه يو کس ستاسې نه خامخا عمل به کوي د جنتيانو تر دې د هغه او د جنت تر منځ د يو ذراع (څنګل) په اندازه فاصله پاتي شي، نو پدې باندې خپل تقدير رامخکي شي پس د دوزخيانو عمل به وکړي نو دوزخ ته به ننوځي، او بيشکه يو کس ستاسې نه خامخا عمل به کوي د دوزخيانو تر دې چې د هغه او د دوزخ ترمنځ فاصله پاتي نشي مګر د يو ذراع (څنګل) په اندازه نو په دې باندې خپل تقدير رامخکې شي، نو د جنتيانو عمل وکړي نو جنت ته به داخل شي]**

(دحديث په صحت(اتفاق شوی دی) بخاري اومسلم)

**44.** او د حذیفه بن أسید رضي الله عنه څخه روایت دی چې هغه دپیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي فرمايې:

**[نطفه چې کله په بچي داني کې پر ځای شي نو د هغه نه څلوېښت يا پنځه څلوېښت ورځې وروسته دې ته ملايک راشي،** نو ووايې: **ای ربه ! دا به بدبخته وي که نېکبخته؟ نو ويې لېکي،** بيا ووايې : **ای ربه :نر دی که ښځه؟ نو ويې لېکي، او د هغه عمل او اثر او د مرګ نېټه او رزق يې هم ولېکل شي، بيا دا عملنامې راتولې کړی شي نو نه په کې څه زياتيږي او نه پکې کميږي].**

(دا حديث) مسلم روايت کړی دی.

**45.** او په صحيح مسلم کې د عايشې رضي الله عنها څخه روايت دی هغه فرمايې:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د انصارو د يو ماشوم جنازې ته راوبلل شو، نو ما ووېل چې دې لره دې د جنت مزې وي (نېکبختي وي)، دا خو د جنت له مرغيو څخه يوه مرغۍ ده تر اوسه يې هيڅ ګناه هم

نده کړې او نه د ګناه کولو وخت ته رسېدلی، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

**[ايا تا ته يقيني پته ده چې داسې به وي او که چېرته بل شان وي ای عائشې! بېشکه الله تعالی د جنت لپاره خلق پيداکړي په داسې حال کې چې هغوی د خپلو پلرونو په شاګانو کې وو، او د دوزخ لپاره يې خلک پيداکړي په داسې حال کې چې هغوی د خپلو پلرونو په شاګانو کې وو].**

**.46** او د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه فرمايي :رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي :[هر يو کار په تقدير سره دی، تر دې چې کمزوري او هوښيارتيا هم].

(دا حديث) مسلم روايت کړی دی.

**.47** او د قتاده رضي الله عنه څخه روايت دی په دې ايت کې :**﴿تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ﴾** [القدر:4]

فرمايي :فېصله کيږي (لېکل کيږي) په دې کې هغه څه چې په ټول کال کې واقع کيږي تر بل همدې وخت پورې.

دا اثر عبد الرزاق او ابن جرير روايت کړی.

او د دې معنی د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما، حسن، أبو عبد الرحمن السلمي، سعيد بن جبير او مقاتل څخه رانقل شوې.

**48.** او د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه فرمايي: **بېشکه الله تعالی لوح محفوظ د سپينې ملغلرې څخه پيداکړی، چې پوښونه يې د سرو ياقوتو څخه دي، قلم يې رڼا ده، او لېکل يې هم رڼا ده، پلنوالی يې د اسمان او ځمکې ترمنځ فاصلې په اندازه دی، هره ورځ پکې درې سوه شپېته کرته ګورې، نو په هر يو ځل کتلو کې پيداکول کوي او روزي ورکوي څوک**

**ژوندي کوي او څوک مړه کوي چا لره عزت ورکوي څوک ذليله کوي څه چې وغواړي هغه کوي**، نو دا د الله تعالی د دې قول تفسير دی: ﴿كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ﴾

ترجمه :هر وخت هغه په جدا جدا کار کې دی . [الرحمن:29]

دا اثر عبد الرزاق، ابن المنذر، طبراني او حاکم رانقل کړی.

ابن القيم رحمه الله تعالی چې کله دا حديثونه او د دې په معنی کې اثار ذکر کړي، فرمايلي يې دي:

نو دا ورځنی تقدير دی، او د دې نه چې مخکې و هغه د کال تقدير دی، او د هغه نه چې مخکې و هغه د ټول عمر تقدير دی په وخت د تړل کېدو د يو نفس په هغه پورې، او د هغه نه چې مخکې و هغه همدارنګه د هغه د اول پيدا کېدو سره و او په هغه وخت کې چې هغه کرپندوکی و، او د هغه نه چې مخکې و هغه د هغه د پيدابښت نه مخکنی تقدير و لېکن د اسمانونو او ځمکو له پيدابښت نه وروسته

و، او د هغه نه چې مخکې وو هغه د اسمانونو او د ځمکې له پیداېښت نه پنځوس زره کاله وړاندې و، او هر یو د دې تقدیرونو څخه په شان د شرحې دی مخکني تقدیر لره.

او په دې کې دلېل دی په پوروالي د علم د الله تعالی او په قدرت او حکمت د هغه باندې، او په زیات تعریف د هغه کې ملاېکو او خپلو مومنانو بندګانو ته په خپل ځان او خپلو نومونو باندې.

بیا یې ووېل :نو دا حدېثونه او د دې په شان احادېث ټول سره پدې یو دي چې د انسان لومړنی لېکل شوی تقدیر د نیک عمل څخه منع کول نه کوي او نه په دې باندې تقدیر ته ځان سپارل واجب کېږي، بلکې د دې په وجه په انسان باندې زیات کوشش او زیار ویستل لازمېږي.

او لدې امله کله چې ځینو صحابو کرامو دا خبره واورېده ویې وېل :زه نه وم ډېر کوشش کوونکی په نیک عمل کې مخکې د اوسني وخت نه.

او ابو عثمان النهدي سلمان ته ووېل :مونږ د دې کار په اول باندې ډېر خوشحاله یو د دې د اخیر نه.

او هغه داسې چې کله الله تعالی دې لره د مخکې څخه یو څه لیکلي او تیار کړي وي او دې لره یې هغې ته رسېدګي اسانه کړي وي نو د دې خوشحالي په هغه مخکني تقدیر چې د الله تعالی له طرفه دې ته لیکل شوی ډیره لویه ده د هغې خوشحالۍ نه چې د دې نه وروسته به د اسبابو په کارولو سره راځي.

**49.** او د ولیېد بن عباده نه روایت دی هغه وایې : [زه خپل پلار ته ورغلم په داسې حال کې چې هغه مریض و چې ما پکې د مرګ نښې لیدلی وې، نو ما ورته ووېل :ای پلاره !ما ته نصیحت وکړه او پوره کوشش زما لپاره وکړه، نو هغه ووېل :ما کښېنوئ، نو کله ئې چې کښېناوه، ویې وېل :ای بچوړیه :بېشکه ته هیڅکله د ایمان خوند او مزه نه شې څکلی او هېڅکله رسېدلی نشي په الله تعالی د علم لرلو حقیقت ته تر دې چې ته د خیر او شر په

تقدير باندې ايمان ونه لرې، نو ما ورته ووېل :اى پلار جانه !او څنګه به زه د خير او شر تقدير پېژنم؟ هغه وفرماېل :پوهه شه چې بېشکه هغه څه چې ستا نه بچ شو هيڅکله تا ته نه و دررسېدونکى، او هغه څه چې تا ته دورورسېږي نه و چې ستا نه بچ شي، اى بچوړيه !بېشکه ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرماېل يې:

**[الله تعالى چې اول قلم پيداکړ ويې وېل :ولېکه، نو په دغه وخت کې ټول هغه څه ولېکل شول چې د قيامت د ورځې پورې کېدونکي دي «...اى بچوړيه !که ته چېرته مړ شوې او دا عقېده دې نه وه نو ته به اور ته ننوځې].**

داحديث امام احمد روايت کړى دى

**50.** او د ابو خزامه نه روايت دى هغه د خپل پلار نه روايت کوي هغه فرمايې :[ما ووېل :اى د الله تعالى پيغمبره !ته مونږ له خبر راکړه مونږ چې کوم دمونه کوو او يا دوايي کوو او يا نور څه

پرهېزونه کوو آيا دا شيان د الله تعالی په تقدير کې څه بدلون راوستلی شي؟

پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل :**[دا ټول شيان د الله تعالی د تقدير څخه دي].**

دا حديث امام احمد او ترمذی روايت کړی او ترمذي ورته حسن ويلی.

**51.** او د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي :رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**[قوي مومن غوره او ډير خوښ دی الله تعالی ته د کمزوري مومن نه، او په دواړو کې خير دی، د هغه څه لپاره کوشش کوه چې تا ته فايده دررسوي، او د الله تعالی نه مدد غواړه او کمزوري مه کوه، نو که څه مصيبت درورسيږي نو داسې مه وايه :که ما چېرته داسې کړی وی نو داسې به شوی وی داسې به شوی وی !خو لېکن داسې**

**وايه :الله تعالى تقدير لېکلى او څه چې يې خوښه وي هغه کوي، ځکه چې د (لو) (که چېرې) کلمه انسان ته د شيطان کار (وسوسه) کولاووي].**

(دا حديث) مسلم روايت کړی دی

******

## باب دی په بيان د ذکر د ملايکو عليهم السلام او په هغوی باندې ايمان لرل

او دا وينا د الله تعالى: **﴿لَّيْسَ الْبِرَّ أَن تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ﴾**

[نه ده نېکي خاص دا خبره چې وګرځوئ مخونه خپل په طرف د مشرق او مغرب، او نيکي، نيکي د هغه چا ده چې ايمان يې راوړی وي په الله تعالى او په ورځ وروستنۍ او په ملايکو او په کتابونو او پيغمبرانو] الآية البقره سورت :۱۷۷.

او د الله تعالی دا قول: **﴿إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ﴾ (30)**

بېشکه هغه کسان چې (په رښتیا) یې ویلي دي : زمونږ رب الله تعالی دی، بیا ټینګ ولاړ وي (نو) په دوی ملایک نازلیږي چې تاسو مه وېرېږئ او مه غمګین کیږئ او تاسو د هغه جنت زېری واخلئ چې تاسو سره به یې وعده کولی شوه.

[فصلت سورت :۳۰ آیت.]

او د الله تعالی دا قول : **﴿لَّن يَسْتَنكِفَ الْمَسِيحُ أَن يَكُونَ عَبْدًا لِّلَّهِ وَلَا الْمَلَائِكَةُ الْمُقَرَّبُونَ﴾**

هیڅ چېرې بد نه ګڼي مسیح د بندګیکولو د الله تعالی نه او نه د الله تعالی نږدې ملایکې]

[النساء سورت :۱۷۲].

او د الله تعالی دا قول :**﴿وَلَهُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَمَنْ عِندَهُ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِ وَلَا يَسْتَحْسِرُونَ﴾ (19)**

او خاص د هغه لپاره دي هغه څوك چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، او هغه څوك چې له هغه سره دي، هغوی د هغه له عبادت نه سرکښي نه کوي او نه ستومانه کيږي (١٩) هغوی شپه او روځ تسبيح وايي، نه کمزور کيږي او نه ستړي کيږي]

[الأنبياء :١٩،٢٠].

او د الله تعالى دا قول ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ جَاعِلِ الْمَلَائِكَةِ رُسُلًا أُولِي أَجْنِحَةٍ مَّثْنَىٰ وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ ۚ يَزِيدُ فِي الْخَلْقِ مَا يَشَاءُ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ (1)

[مقررونکی د ملاېکو دی رسولان د وزرو والا دی دوه دوه، دري درې، او څلور څلور [آيت [فاطر : ١].

او د الله تعالى دا قول: **﴿ٱلَّذِينَ يَحۡمِلُونَ ٱلۡعَرۡشَ وَمَنۡ حَوۡلَهُۥ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيُؤۡمِنُونَ بِهِۦ وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٖ رَّحۡمَةٗ وَعِلۡمٗا فَٱغۡفِرۡ لِلَّذِينَ تَابُواْ وَٱتَّبَعُواْ سَبِيلَكَ وَقِهِمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ﴾**

[هغه ملاېکی چې پورته کوي عرش د الله تعالی او هغه چې چاپېره د هغې نه دي تسبيح وايې سره د ستاېني د رب د دوی نه او اېمان راوړي په هغه باندې او بخښنه غواړي د هغه چا لپاره چې اېمان يې راوړی دی]

[المؤمن سورت :۷].

**52.** او د عاېشې رضي الله عنها څخه روايت دی هغه فرمايې :رسول الله صلی الله عليه وسلم فرماېلي دي:

**[ملاېکې د رڼا څخه پيداشوي، او پېريان د اور د شغلې نه پيداشوي، او ادم عليه السلام د هغه څه نه پيداشوی چې تاسې ته بيان شوی].**

(دا حديث) مسلم روايت کړی دی.

او د معراج د واقعې په ځېنو حديثونو کې داسې راغلي چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته بيت معمور کوم چې په اوم اسمان کې دی پورته کړی شو، او په بعضو روايتونو کې ويل شوي: **[چې په**

**شیږم اسمان کې دی او دا داسې دی لکه په ځمکه کې چې کعبه شریفه ده، او د هغه حرمت او عزت په اسمان کې داسې دی لکه د کعبې حرمت او عزت چې په ځمکه کې دی، او دا پداسې حال کې دی چې هره ورځ ورته اویا زره ملاېکې ورننوځي او بیا ورته د اخرې زمانې پورې بېرته نشي راګرځېدلی].**

**53.** او د عاېشې رضي الله عنها څخه روایت دی هغه فرمایې :رسول الله صلی الله علیه وسلم فرماېلي :**[په آسمان کې د یو قدم په اندازه ځای نشته مګر په هغه کې یو ملاېک سجده کوونکی دی او یا یو ملاېک الله تعالی ته په عبادت ولاړ دی، نو دا د ملاېکو دا خبره ده]** :

[او یقینا مونږ خامخا صفونه جوړوو] (۱۶۵) [او یقینا مونږ خامخا تسبیح ویونکي یو] [الصافات سورت :۱۶۵،۱۶۶].

دا حدیث محمد بن نصر، ابن أبي حاتم، ابن جریر او أبو الشیخ روایت کړی.

**54.** طبراني د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما څخه روايت کړی هغه فرماېي :رسول الله صلى الله عليه وسلم فرماېلي دي:

**[په اوو واړو آسمانونو کې د يو قدم او نه د يوې لوېشتې او نه د يو ورغوي په اندازه ځای شته مګر په دې کې يو ملاېک الله تعالى ته په عبادت ولاړ دی او يا يو ملاېک سجده کوونکی دی او يا يو ملاېک رکوع کوونکی دی، نو کله چې د قيامت ورځ شي ټول به ووايې :پاکي ده تا لره (ای ربه )! مونږ ستا د بندګۍ کولو حق نه دی ادا کړی !مګر دا چې ستا سره مو هيڅ شی نه دی شرېک کړی].**

**55.** او د جابر بن عبد الله رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه فرماېي :رسول الله صلى الله عليه وسلم فرماېلي دي : **[ما ته اجازه شوې چې د الله تعالى د عرش باروونکو ملاېکو نه د يوې ملاېکې باره کې خبرې وکړم، د هغه د غوږ د نرمۍ څخه**

**د ښځې پورې د اوو سوو کالو د مزل په اندازه مسافه ده].**

دا روایت ابو داود روایت کړی، او بیهقي په «اسماء او صفات»کې روایت کړی، او ضیاء فی «المختارة» کې رانقل کړی.

**56.** د دوی د مشرانو څخه جبریل علیه السلام دی، او الله تعالی هغه په امانتداری خوش اخلاقۍ او قوت لرلو سره ستاېلی، نو فرماېلي يې دي : [ښودنه کړې دې ته سخت قوتونو والا (۵) چې د طاقت والا دی، نو برابر شو] د النجم سورت :ایت ۵،۶].

او د هغه د طاقت څخه دا دي چې هغه د لوط علیه السلام د قوم اوه کلي سره د خلکو پورته کړي او هغوی تقریبا څلور زره کسان وو، سره د هغوی د چارپایانو او حیواناتو، او ټولو هغه ځمکو او ودانیو چې د دوی وې، د خپل وزر په یو طرف باندې، تر دې چې هغوی يې د اسمان ښندې ته اوچت کړل،

تر دې چې ملايکو د هغوی د سپو غپا او د هغوی د بانګيانو اوازونه واورېدل، او بيا يې رانسکور کړل نو بره طرف يې ورله ښکته وګرځاوه.

نو دا دی هغه د سخت طاقت والا.

او د الله تعالی دا قول :ذو مرة، يعنې :د ښاېسته اخلاقو، ښاېسته شکل، لوړ مقام او د سخت طاقت والا.

دا معنی يې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ويلې ده.

او نورو ويلي :ذو مرة :يعني :د طاقت والا.

او الله تعالی د هغه په صفت کې فرمايلي﴿ **إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ(19) ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي الْعَرْشِ مَكِينٍ(20) مُّطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ(21)** ﴾

بېشکه دا (قرآن) يقينًا د ډېر عزتمند رسول خبره ده (۱۹) چې د عرش د مالك په نز د قوت والا (او) د مرتبې والا دی (۲۰) منلی شوی دی هلته، امانت دار دی . [د التکويرسورت :۱۸-۲۱ نمبر آيتونه]

یعني :هغه سره زور دی او د سخت جنګ والا دی او د الله تعالی په نزد هغه لویه مرتبه او لوړ مقام دی **[مُّطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ]** یعني : تابعداري کړی شوی دی په ملاېکو کې، **أمین** :یعني : د امانت والا دی، او د دې وجې هغه د الله تعالی او د هغه د پېغمبرانو ترمنځ استازی دی.

**57.** او بېشکه هغه به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په مختلفو شکلونو کې راته، او دوه ځله یې هغه په خپل اصلي شکل کې لېدلی و په داسې حال کې چې د هغه شپږ سوه وزرې وې.

دا امام بخاري رحمه الله د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت کړی.

**58.** او امام احمد د عبد الله نه روایت کړی فرمایلي یې دي :**[پېغمبر صلی الله علیه وسلم جبریل په خپل شکل کې ولېده او د هغه لپاره شپږ سوه وزرونه و، هر یو وزر یې د اسمان کناري پټې کړې وې، د وزرو نه یې مختلف رنګه ګلونه**

**او ملغلرې او یاقوت راغورځېدل دومره ډېر چې الله تعالی نه پغیر هیڅوک پرې نه پوهیږي]**

د دې روایت سند قوي دی.

**59.** او د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي :**[رسول الله صلی الله علیه وسلم جبریل علیه السلام په شنه چپنه کې لیدلی وو دومره غټ و چې د اسمان او زمکې تر منځ خالیګاه یې ډکه کړې وه]**

(دا حدیث) مسلم روایت کړی دی.

**60.** او د عایشې رضي الله عنها څخه روایت دی، چې بېشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**[ما جبریل علیه السلام د راکوزېدو په حالت کې ولېدو چې د اسمان د کنارو منځ یې ډک کړی و په**

**هغه باندې د وریښمو جامې وې چې ملغلرې او یاقوت پرې راځوړند وو]**

دا حدیث ابو الشیخ رانقل کړی.

**61.** او ابن جریر د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت نقل کړی هغه فرمایې: **جبرائیل معنی عبد الله، او میکائیل معنی عبید الله، او هر یو نوم چې ایل پکې وي نو د هغه معنی عبد الله دی.**

**62.** او ابن جریر د علي بن الحسین همداسې رانقل کړي، او دا یې پکې زیات کړي: **او اسرافیل معنی عبد الرحمن.**

**63.** او د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی هغه فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**[آیا زه تاسې ته د تولو نه غوره ملایک در ونه ښایم؟ جبریل علیه السلام].**

**64.** [او د أبي عمران الجوني څخه روايت دی
هغه فرمايي چې هغه ته دا خبره رارسېدلې ده چې
ببشکه جبريل عليه السلام پيغمبر صلى الله عليه
وسلم ته راغې په داسې حال کې چې ژړل يې، نو
رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته ووېل:

**«په څه خبره ژاړې؟».**

هغه وفرمايل :**[زه به ولې نه ژاړم په الله تعالى مې
دې قسم وي د کوم وخت نه چې الله تعالى دوزخ
پيداکړی تر اوسه زما سترګه نده وچه شوې، د دې
وېرې نه چې هسې نه چې زه د الله تعالى نا فرماني
وکړم نو ما به دوزخ ته واچوي].**

دا روايت امام احمد فی» الزهد «کې روايت کړی.

**65.** او امام بخاري د عبد الله بن عباس رضي
الله عنهما څخه روايت کړی هغه فرمايي :رسول
الله صلى الله عليه وسلم جبريل عليه السلام ته ووېل:

**[ته زمونږ ملاقات ته د دې نه ډير ولې نه راځې]**

نو دا ايت نازل شو [او مونږ نه شو راکوځيدی مګر په حکم د رب ستا، هغه لره دي ټول هغه څه چې مخکې زمونږ نه دي او هغه څه چې وروستو زمونږ نه دي] آيت د مريم سورت :۶۴].

او د دوی د مشرانو نه ميکائېل عليه السلام دی، او هغه ته د باران ورولو او نبالګيو ذمه وراي ورکړل شوې.

**66.** او امام احمد د انس رضي الله عنه نه روايت کړی چې بېشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم جبرېل عليه السلام ته ووېل:

**[څه دې ما لره چې ما تر اوسه مېکائېل عليه السلام هېڅکله په خندا نه دې لېدلی؟** هغه ورته وفرمايل :**د کله نه چې اور پيداشوی د هغه وخت نه مېکايل عليه السلام ندي خندلي].**

او د دوی د مشرانو نه اسرافیل علیه السلام دی، او هغه یو د بارروونکو د عرش نه دی او دا هغه ملایک دی چې په شپیلۍ کې به پوکې کوي.

**67.** امام ترمذي روایت نقل کړی او حسن یې ورته ویلې، او حاکم هم روایت کړی د أبو سعید الخدري رضي الله عنه نه هغه فرمایې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**[څرنګه به زه خوشحاله شم او د ښکر والا ښکر په خوله کې نبولی او خپل طرف ته یې کوږ کړی او غوږ یې ایښودی د دې انتظار کوي چې کله به ورته امر کیږي نو شپیلۍ به وهي؟].**

هغوی وفرمایل : **نو مونږ به څه وایو ای د الله تعالی پیغمبره؟**

پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : **داسې ووایئ : حسبنا الله ونعم الوکیل علی الله توکلنا].**

**68.** او د عبد الله بن عباس رضي الله تعالی عنهما څخه روایت دی بېشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

**[بېشکه یو ملایک د عرش باروونکو ملایکو نه چې هغه ته اسرافیل ویل کیږي، د عرش یوه څنډه د هغه په اوږه ده، د هغه پښې د اوومې ځمکې لاندې تیرې شوي، او سر یې د اووم آسمان څخه پورته شوی دی].**

دا حدیث أبو الشیخ او ابو نعیم فی» الحلیة «کتاب کې روایت کړی.

**69.** او أبو الشیخ د اوزاعي نه روایت کړی هغه فرمایي :د الله تعالی په ټولو مخلوقاتو کې د اسرافیل علیه السلام نه ښایسته اواز لرونکی بل څوک نشته، نو کله چې هغه د الله تعالی پاکي شروع کړي نو د اوو اسمانونو والا باندې خپل لمونځونه او خپله تسبیح بنده کړي.

او د دوی د مشرانو نه ملک الموت علیه السلام دی:

په قرآن او حدیث کې د هغه نوم ندی ذکر شوی، او په بعضې آثارو کې د هغه نوم عزرائیل ذکر شوی (والله أعلم) دا خبره حافظ ابن کثیر رحمه الله کړی .
او وېلي يې دي :دوی د خپلو د کارونو د اجرا کولو په نسبت په څو ډوله دي:

نو ځېني د دوی نه د عرش باروونکي دي.

او ځيني د دوی نه کروبيون دي هغوی چې د عرش نه چاپېره دي، او دوی د عرش باروونکو سره د غوره ملاېکو د ډلې څخه دي، او دوی الله تعالی ته ډير نږدې ملاېک دي، لکه چې الله تعالی فرمابلي دي :[هيچ چېرې بد نه ګڼي مسيح د بندګیکولو د الله تعالی نه او نه د الله تعالی نږدې ملاېکې د [النساء سورت :۱۷۲ آيت].

او ځېني د دوی نه په آسمان کې اوسېږي هغه يې په همېشه عبادت باندې پېټ کړی د شپې او د ورځې سهار او بېګاه د الله تعالی بنده ګي کوي لکه چې الله

تعالى فرمايلي :**[تسبيح وايې د الله تعالى شپه او ورځ څه سستي نه ښکاره کوي]**
[النبأ سورت [٢٠]آيت].
او ځيني د دوى نه هغه دي چې په نمبر نمبر يو بل پسې بيت المعمور ته ورننوځي.
زه دا وايم :ښکاره خو داسې ده چې بيت المعمور ته چې په نمبر نمبر يو بل پسې ننوځي هغه د اسمان اوسېدونکي دي.
او ځيني د دوى نه په جنتونو باندې موکل دي او د جنتيانو لپاره په کرامتونو تيارولو او هغوى لره په ميلمستيا کولو باندې ذمه واران دي، لکه کالي خوراک څښاک ګانه د اوسېدو ځاى او نور د هغو نعمتو څخه چې نه سترګو لېدلي او نه غوږونو اورېدلي او نه د يو انسان په سوچ او فکر کې راغلي.
او ځيني د دوى نه په اور (دوزخ) باندې مقرر دي -الله تعالى دى ترې مونږ وساتي -او هغوى ته زبانيه وايې، د هغوى په سر کې نولس ملايک دي

او نګران د هغوی مالک علیه السلام دی، او هغه د ټولو نګرانانو مشر دی، او دوی د الله تعالی په دې وینا کې ذکر شوي :او وبه وایي هغه کسان چې (د دوزخ( په اور کې دي، د جهنم نګرانانو ته: ﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ فِى ٱلنَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ٱدْعُواْ رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِّنَ ٱلْعَذَابِ﴾

:تاسو له خپل رب نه دعا وغواړئ چې سپک کړي زمونږ نه یوه ورځ د عذاب څخه . [د المومنون سورت :۴۹] .

او (الله) تعالی فرمایلي

﴿وَنَادَوْا يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ۖ قَالَ إِنَّكُم مَّاكِثُونَ﴾ (77)

:[او دغه (دوزخیان) به اواز وکړي :ای مالکه ! ستا رب دې مونږ مړه کړي، هغه (مالك) به ووایي : ببشکه تاسو به همېشه په دې کې پاتي کېدونکي یاست] .د زخرف سورت :۷۷آیت . او (الله) تعالی فرمایلي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ

**نَارًا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ﴾**

[په دغه اور باندې مقرر دي ملايک سخت طبيعت والا، طاقتور نافرماني نه کوي د الله تعالی نه د هغه چې دوی ته يې امر کړی وي، او کوي دوی هغه څه چې دوی ته يې حکم ورکول کيږي .

[د تحريم سورت :۶ آيت]

او (الله) تعالی فرمايلي: ﴿**عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ** ﴾ (30)

[په هغه باندې مقرر دي نولس (ملايک( (۳۰) او نه دي مقرر کړي مونږ ساتوونکي د اور مګر ملايک] تر دې ځای پورې :

﴿**وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ ۚ وَمَا هِيَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْبَشَرِ**﴾ (31)

[او نه پيژني لښکرې د رب ستا مګر هغه] .

[د المدثر سورت :۳۰،۳۱].

مقرر باندې ساتنه په انسانانو د څخه لدوی ځينې او ﴿**لَهُ مُعَقِّبَاتٌ مِّن** :فرمايلي تعالی الله چې لکه دي،

**بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ يَحْفَظُونَهُ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ ۗ وَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِقَوْمٍ سُوءًا فَلَا مَرَدَّ لَهُ ۚ وَمَا لَهُم مِّن دُونِهِ مِن وَالٍ﴾ (11)**

[د الله تعالى په اختيار کې دي وار په وار راتلونکي ملاېک وړاندې او وروستو د انسان نه چې د هغه حفاظت کوي په سبب د حکم د الله تعالى] .

[د الرعد سورت :۱۱ آيت].

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايلي :دا پرښتې دي چې لدوى څخه وړاندې وروسته ساتنه کوي، نو کله چې د الله تعالى حکم راشي نو ملاېک د هغوى نه لرې شي او هغوى يواځې پرېږدي.

او مجاهد رحمه الله ويلي :هيڅ يو بنده نشته مګر په هغه باندې يو ملاېک مقرر دى چې هغه په خوب او وېښه د پېريانو، انسانانو او حشراتو څخه ژغوري، نو د دې شيانو څخه هيڅ يو شي نشته چې انسان ته راځي او هغه ته د ضرر رسولو اراده کوي مګر دا ملاېک ورته وايي :چې وروسته شه،

مګر هر هغه چې الله تعالی ورته اجازه کړي وي نو هغه ورته رسیږي.

او ځیني لدوی نه د انسانانو د عملونو په ساتنه باندې ګمارل شوي، لکه چې الله تعالی فرمایلي :(یاد کړه( [هغه وخت چې را اخلي دوه اغستونکي ملایک، ښي اړخ او چپ اړخ ته ناست وي] .[نه وباسي انسان د خولې نه څه خبره مګر د هغه په خوا کې شته څوکۍ کوونکي تیار] .[د ق سورت : ۱۷،۱۸ آیتونه]

او (الله) تعالی فرمایلي : [او یقینا په تاسې مقرر دي حفاظت کوونکي ملایک (۱۰) . عزتمند لیکوونکي (۱۱) پوهیږي په هغه څه چې تاسې يې کوئ] د الانفطار سورت :۱۰-۱۲ آیتونه].

**.70** امام بزار د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کړی هغه فرمایي :رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

**[بېشکه الله تعالی تاسې له بربنډتوب نه منع کوي، نو تاسې حیا وکړئ د الله تعالی د ملاېکو نه هغوی چې ستاسې سره دي، کرام کاتبین ملاېکې کومې چې هیڅ وخت ستاسې څخه نه جدا کیږي مګر په یو د ددې درې حالتونو کې :د ډک اودس ماتي په وخت کې، د جنابت په وخت کې او د غسل کولو په وخت کې، نو کله چې یو کس ستاسې په یو کولاو ځای کې غسل کوي نو خپل ځان دي په کالېو او یا په دیوال یا بل شي باندې پټ کړي].**

حافظ ابن کثیر رحمه الله فرماېلي :او د (إكرامِهِم) معنی داده چې د هغوی نه حیا او پرده وشي، نو په هغوی دی غلط عملونه نشي لیکلې، ځکه چې الله تعالی هغوی په اخلاقو او شکلونو کې عزتمند پیداکړي.

بیا یې داسې څه وېلي چې د هغه معنی دا ده :یقینا د هغوی د کرم او عزت څخه دا دي چې دوی داسې کور ته نه ننوځي چې په هغه کې سپی وي او یا پکې تصویر وي او یا پکې جنب انسان وي او یا

پکې بت وي او د هغې ډلې سره هم نه ملګرى کېږي د کومو سره چې سپى او ګونګرو وي.

**71.** او امام مالک بخاري او مسلم د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت کړى چې ښېشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

**[ځي راځي په تاسي کې، ملايکي د شپې او ملايکي د ورځې، او دوى ټول د يو بل سره د سهار او مازديګر په لمانځه کې يوځاى کيږي، بيا هغه ته ورخيژي هغه ملايک چې ستاسې سره يې شپه سبا کړې وي نو (الله تعالى) د هغوى نه پوښتنه کوي او هغه په دوى باندې ښه پوهه دى :زما بندګان مو څنګه پرېښودل؟ نو هغوى ورته وايي :مونږ هغوى پداسې حال کې پرېښودل چې لمونځ يې کاوه، او مونږ چې هغوى ته ورغلو نو هم يې لمونځ کاوه].**

**72.** او په يو روايت کې راغلي چې بېشکه ابو هريره رضي الله عنه وفرماېل :که ستاسې خوښه وي نو دا آيت ولولئ :[او لمونځ د سبا، يقينا لمونځ دسبا ته حاضريدلی شي (ملايکې) ]

[د الاسراء سورت : ۷۸ آيت].

**73.** او امام أحمد او مسلم دا حديث روايت کړی:

**[نه دی راجمع شوی يو قوم د الله تعالی د کورونو نه په يو کور کې چې لولي د الله تعالی کتاب او يو بل ته يې ورښايي مګر خامخا نازل شوی په دوی باندې د زړه سکون او پټ کړي دوی لره د الله تعالی رحمت او مهربانۍ او راچاپېره شوي د دوی نه ملايکې او ياد کړي الله تعالی دوی د هغه چا په ډله کې چې هغه سره دي، او د چا چې خپل عمل کمزوری وي نسب يې ورله نشي تېزولی].**

74. او په مسند او سننو کې حدیث دی چې:

**[بېشکه ملاېکې خپلې وزرې د طالب العلم لپاره غوړوي د خوشحالۍ له وجې نه په هغه کار چې دا يې کوي]**

او د ملاېکو په باره کې ډېر زيات حدېثونه راغلي.

******

**دا ښېرکی د الله تعالی د هغه حکم په اړه دی چې د کتاب په اړه يې کړی دی.**

او دا وينا د الله تعالی ﴿**اتَّبِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ ۗ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ**﴾ (3)

تاسو پيروي کوئ د هغه (دين) چې تاسو ته د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی او تاسو له ده نه سِوا (د نورو) دوستانو پيروي مه کوئ، (خو) تاسو ډېر کم نصيحت اخلئ!

[الأعراف سورت :۳].

**75.** د زيد بن أرقم رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي [بېشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم خطبه وکړه نو د الله تعالی ثنا او صفت يې بيان کړ، بيا يې وفرمايل:

**[د الله تعالی له حمد او ثنا څخه وروسته، خبردار ای خلکو !زه يو بشر يم، شايد چې ما ته زما د**

**رب استازی (ملک الموت) راشي نو زه به د هغه دعوت قبول کړم، او يقېنا زه پرېښودونکی يم په تاسې کې دوه درانه شيان، اول د هغوی نه د الله تعالی کتاب دی چې پدې کې هدايت او رڼا ده نو تاسې د الله تعالی په کتاب عمل وکړئ او په هغه منګولې کلکې کړئ «نو د الله تعالی په کتاب باندې د عمل کولو ته يې خلک وهڅول او بيا يې ووېل : او زما د کور والاو عزت او احترام وکړئ «او په بل لفظ کې راغلي» :د الله تعالی کتاب هغه د الله تعالی مضبوطه رسۍ ده، چا چې د هغه تابعداري وکړه نو دا کس په هدايت باندې دی، او چا چې پرېښوده نو دا کس په ګمراهۍ باندې دی].**

(دا حديث) مسلم روايت کړی دی.

**.76** او د مسلم په روايت کې د جابر رضي الله عنه په اوږد حديث کې راغلي چې ببشکه پيغمبر صلی الله عليه وسلم د عرفې د ورځې په خطبه کې وويل:

**[او بېشکه ما په تاسې کې دوه شیان پرېښي دي چې هیڅکله به تاسې ګمراه نشئ که تاسې پرې منګولې کلکې کړې، د الله تعالی کتاب، او ستاسې څخه به زما باره کې پوښتنه کیدلی شي، نو تاسې به څه جواب ورکوئ؟** «صحابو وفرمايل **:مونږ دا ګواهي ورکوو چې بېشکه تا د الله تعالی دین رسولی او خپله ذمه واري دی ادا کړې او خپل امت دې نصېحت کړی** -پېغمبر صلی الله علیه وسلم په خپله د شهادت په ګوته اسمان ته اشاره وکړه پداسې حال کې چې خلکو ته یې خوځوله **»: -ای الله ته ګواه شه «درې ځلې یې داسې ووېل].**

**77.** او د علي رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمايي :[ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي چې ویل یې:

**[خبردار چې خامخا به په راتلونکي وخت کې فتنې وي].**

ما ورته ووېل :**چې د فتنو څخه د وتلو لاره کومه ده د الله تعالى پېغمبره؟**

هغه وفرماېل :**[د الله تعالى کتاب په دې کې ستاسې څخه د مخکنيو خلکو خبرونه دي، او ستاسې نه د وروستيو خلکو خبرونه پکې دي، او فېصله کوونکى دى ستاسې ترمنځ، هغه قاطع کتاب چې لوبې او ګپ نه دى، چا چې د يو زورور له وجې پرېښوده الله تعالى به يې پرې کړي، او چا چې د هغه نه پرته په بل څه کې هدايت ولټاوه الله تعالى به يې ګمراه کړي، او هغه د الله تعالى مضبوطه رسۍ ده، او هغه د حکمت والا خبري دي، او هغه نېغه لاره ده، دا هغه کتاب دى چې د دې په وجه خواهشات بل طرف ته نشي کږېدلى، او ژبې پرې نه ګډوډېږي، او علما د هغه د علمونو څخه نه مړېږي، او د ډېر تکرار له وجې نه زړېږي، او عجابب يې نه ختمېږي، دا هغه کتاب دى چې کله پېريانو واورېده نو د دې منعه نشو چې ووايي : [يقېنا مونږ اورېدلى قرآن ناآشنا (مضمون والا) (١) هدايت کوي حق ته نو مونږ ايمان راوړى په**

**دې (قرآن) باندې] [د الجن سورت :۱،۲] چا چې د هغه مطابق وینا وکړه نو ریښتیا یې ووېل، او چا چې پرې عمل وکړ نو الله تعالی به اجر ورکړي، او چا چې پرې فېصله وکړه نو انصاف ته به ورسېږي، او چا چې دې ته دعوت وکړ نو نېغې لارې ته برابر شو].**

دا حدیث ترمذي روایت کړی او وېلي یې دي :دا غریب دی.

**78.** او له ابو درداء رضي الله عنه څخه روایت دی چې هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي:

**[هر هغه څه چې الله تعالی ورته په خپل کتاب کې حلال ویلي هغه حلال دي او کوم څه ته چې یې حرام ویلي نو هغه حرام دي، او د کوم شي نه چې چپ پاتې شوی هغه د الله تعالی له طرفه تاسې ته بخشش دی، نو د الله تعالی بخشش قبول کړئ، نو پس الله تعالی داسې ندی چې څه شی ترې هېر**

**شي، بیا يې دا آیت ولوست :[او ستا رب هېڅکله هېرووونکی ندی]]** [د مریم سورت :۶۴ آیت].

بزار، ابن أبی حاتم او طبراني دا روایت کړی.

**79.** او له ابن مسعود- رضي الله عنه -نه روایت دی، بېشکه رسول الله- صلی الله علیه وسلم - فرمابلي:

**[الله تعالی د نبغي لارې مثال بیان کړی، او د دې لارې په دواړو اړخونو دیوالونه دي، په دې دیوالونو کې خلاصې دروازې دي، او په دې دروازو باندې پردې رازړول شوي، او د دې لارې په سر کې یو اواز کوونکی دی چې داسې اواز کوي :پدې لاره نیغ شئ او مه کږیږئ، او د دې دپاسه بل بلونکی هم دی کله چې یو بنده د دغو دروازو د خلاصولو اراده وکړي نو هغه ورته دا وایي :هلاک شې !مه خلاصوه که ته چېرته دا خلاصه کړی نو ته به ورته ورننوځې].**

بیا یې داسې شرحه کړ چې د نېغي لارې نه مراد اسلام دی، او د خلاصو دروازو نه مراد د الله تعالی حرام شیان دي، او د رازړول شوو پردو نه مراد د الله تعالی حدود او پولې دي، او د لارې په سر کې بلونکی قران کریم دی، او د دې دپاسه بلونکی د هر مومن په زړه کې د الله تعالی له طرفه نصیحت کوونکی (ویره ورکونکی) دی.

رزین دا روایت کړی، او احمد او ترمذي د نواس بن سمعان رضي الله عنه څخه د دې په شان روایت کړی.

**80.** او له عایشې رضي الله عنها نه روایت دي هغه فرمایي:

رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آیت ولوست : **[خاص الله تعالی هغه ذات دی چې نازل کړی یې دی پر تا باندې کتاب چې بعضې د هغې نه آیتونه ښکاره معنی والا دي دغه اصل د ټول کتاب دی] .** نو آیت یې تر دې ځایه ولوست :[او نصیحت نه اخلي مګر د صفا عقل والا].

[آل عمران سورت:7]

عاېشه رضى الله عنها فرمايې :ويې ويل:

**[نو كله چې تاسې ولېدل هغه كسان چې تابعداري كوي د متشابهاتو نو دغه هغه خلک دي چې الله تعالى په دې آيتونو کې ياد كړي، نو لدوى څخه ځان وساتئ].**

دا حديث امام بخاري او امام مسلم روايت كړى.

**81.** او د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دى هغه فرمايې :[پيغمبر صلى الله عليه وسلم مونږ ته په لاس باندې يو خط كش كړ، بيا يې وفرمايل:

**[دا د الله تعالى لار ده]**، بيا يې د دغه خط نه ښي او كيڼ طرف ته خطونه كش كړل، او ويې فرمايل : **[دا نورې لارې دي، پدې هره لار باندې يو شيطان ناست دى چې هغې ته بلنه وركوي]**، او دا آيت يې ولوست : او دا چې بېشكه دا زما لار ده، چې نېغه

ده، نو تاسو د دې پیروي وکړئ او د (نورو) لارو پیروي مه کوئ، ځکه نو تاسو به (د نورو لارو پیروي) د هغه له لارې نه تار په تار کړي، دا (حکم) دی چې هغه (الله) تاسو ته د دې کلك حکم کړی دی، د دې لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ . [الأنعام سورت :١٥٣].

أحمد، دارمي او نسائي روایت کړی.

**.82** او له ابوهریرة رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمایي :[د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له ملګرو څخه ځېني کسان وو چې د تورات نه به یې لېکل کول، نو هغوی خپل دا کار پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته بیان کړ، نو هغه ورته وفرماېل:

**[بېشکه د ټولو نه ډېر کمعقلتوب او د ټولو نه ډېره لویه ګمراهي دا ده چې یو قوم د خپل پیغمبر د راوړل شوي کتاب نه پرته د بل پیغمبر کتاب ته ترجیح ورکوي، او د خپل امت نه پرته بل امت ته ترجبح ورکوي]** بیا الله تعالی دا آیت راولیږه :آیا

دوی ته دا کافي نه ده چې ببشکه مونږ په تا کتاب نازل کړی، پداسې حال کې چې دوی ته لوستل کیږي، ببشکه چې په دغه (کتاب) کې خامخا رحمت او نصیحت دی د هغه قوم لپاره چې ایمان راوړي . [العنکبوت سورت: ٥١ آیت].

دا حدیث الاسماعیلي په خپل معجم کې روایت کړی، او ابن مردویه هم روایت کړی.

**83.** د عبد الله بن ثابت بن الحارث الأنصاري رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي :[د عمر رضي الله عنه سره په لاس کې یو خط و چې په هغه کې د تورات نه هم څه لیکل وو او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم خوا ته راننوت نو ویې ویل :دا مې د اهل کتابو څخه د یو کس سره ولیده او ښه راته ښکاره شو، نو تا ته مې راوړ چې درښکاره یې کړم، نو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د مخ مبارک رنګ د غصې له وجې نه ډېر زیات بدل شو داسې چې ما هیڅکله د دې نه مخکې داسې نه و لیدلی، نو عبد الله بن الحارث عمر رضي الله عنه

ته ووېل :ته د پیغمبر صلى الله علیه وسلم مخ مبارک نه وینې؟ نو عمر رضي الله عنه وفرماېل : مونږ راضي یو په الله تعالى باندې په رب نېولو، او په اسلام باندې د دین منلو، او په محمد صلى الله علیه وسلم باندې د پیغمبر منلو، نو پیغمبر صلى الله علیه وسلم خوشحاله شو، او ویې وېل:

**[که چېرته موسى اوس راکوز شي او تاسې د هغه تابعداري وکړئ او زما تابعداري پرېږدئ نو خامخا تاسو به بې لارې شئ، زه په پیغمبرانو کې ستاسې برخه یم او تاسې په امتونو کې زما برخه یاست].**

عبد الرزاق او ابن سعد روایت کړی، او حاکم په (الکُنى) کې روایت کړی.

******

## باب دی په بیان د حقوقو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم کې:

او دا وینا د الله تعالی : ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی !تاسو د الله او د الله د رسول اطاعت وکړئ او خپل عملونه مه تباه کوئ .[النساء سورت : 59 آیت].

او د الله تعالی دا قول :[او تاسو لمونځ قائم کړئ او زکات ورکړئ او د رسول اطاعت وکړئ، د دې لپاره چې په تاسو رحم وکړی شي] [النور سورت : 56آیت].

او دا وینا د الله تعالی :[او پیغمبر چې تاسې ته څه درکړي نو هغه واخلئ، او له څه نه چې یې منع

کړي ياست نو تاسي د هغه نه منع شئ] .[الحشر سورت 7 :آيت]

**.84** له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه فرمايي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي :**[ما ته حکم کړی شوی چې د خلکو (کافرانو) سره جنګ وکړم تر څو دوی دا ګواهي ورکړي چې نشته لايق د بنده ګی په حقه سره مګر يواځې الله تعالی دی او پر ما ايمان راوړي، او په هغه څه ايمان راوړي چې ما پرې راتګ کړی، نو کله چې دوی دا کار وکړ پس زما څخه يې خپلې وينې او مالونه بچ کړل مګر په شرعی حق سره او د دوی نور حساب د الله تعالی سره دی].**

(دا حديث( مسلم روايت کړی دی

**.85** او بخاري او مسلم د انس رضي الله عنه روايت نقل کړی، هغه فرمايي :رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

**[درې شيان داسې دي چې په چا کې وي هغه به د ايمان خوند ومومي :دا چې الله او د هغه رسول**

**هغه ته تر ټولو محبوب وي، او له چا سره چې مينه کوي يوازې د الله لپاره يې وکړي، او دا چې کفر ته ورګرځېدل چې الله يوځل ترې ابستلی وي داسې بد وګڼي لکه څوک چې په اور کې غورځېدل بد ګڼي].**

او بخاري او مسلم له همده نه مرفوع روايت کړی دی:

**[تر هغه ستاسو د يوه ايمان ندی بشپړ چې له ما سره يې تر خپل زوی پلار او ټولو خلکو زياته مينه نه وي].**

**.86** او له مقداد بن معدي کرب رضي الله عنه څخه روايت دی بېشکه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

**[کېدای شي چې يو سړي به خپلې تکيا ته ډډه لږولي وي زما يو حديث به بيانوي نو بيا به وايي: زمونږ او ستاسې تر منځ د الله عزوجل کتاب شته**

**نو مونږ چې په دې کې څه شی حلال پیدا کړل هغه به حلال ګڼو، او چې څه مو پکې حرام پیدا کړل هغه به حرام ګڼو !!خبردار !پیغمبر صلی الله علیه وسلم چې څه شي ته حرام ویلي وي هغه داسې دی لکه الله تعالی چې حرام کړي وي].**

دا حدیث ترمذي او ابن ماجه روایت کړی دی.

******

## باب دی په باره د هڅولو د پیغمبر صلی الله علیه وسلم پخپلو سنتو باندې کلکوالي ته او د دې باره کې ترغیب

**ورکول، او د بدعت، ډلو ټپلو او خپل منځي اختلافاتو نه خلک ویرول او هغوی ته اخطار ورکول.**

او دا وینا د الله تعالی: **﴿لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا﴾** (21)

یقینًا ستاسو لپاره په (کار د) رسول الله کې ډېره ښه اقتدا ده، د هغه چا لپاره چې د الله او د وروستنۍ ورځې امېد لري او الله ډېر زیات یادوي.

[الأحزاب سورت 21: :آیت].

او د الله تعالی دا قول: ﴿إِنَّ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِي شَيْءٍ ۚ إِنَّمَا أَمْرُهُمْ إِلَى اللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴾ (159)

[بېشکه هغه کسان چې خپل دین یې تار په تار کړی دی، او دوی فرقې فرقې شول، ته لدوی نه په هېڅ شي کې نه یې].

[الأنعام سورت159:آیت].

او د الله تعالی دا قول : هغه ستاسې لپاره هغه دین مقرر کړی دی چې د هغه وصیت یې نوح ته کړی و او هغه چې مونږ تا ته وحي کړی دی او هغه چې مونږ د هغه وصیت ابراهیم او موسی او عیسی ته کړی و، چې تاسې دین قایم کړئ، او پدې کې اختلاف مه کوئ] آیت.

[الشوری سورت 13 :آیت].

**87.** او له عرباض بن سارية رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي :[رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته یو ډیر له پند نه ډک نصیحت وکړ، داسې نصیحت چې له امله یې(د خلکو) له سترګو نه اوښکې لاړې، او زړونه ترې په ویره کې شول، نو یو صحابي ووېل :ای د الله تعالی پیغمبره !دا خو داسې نصیحت دی لکه د خدای په امانۍ والا نصیحت نو ته مونږ ته څه کلک حکم کوي؟ هغه وفرمایل : **[زه تاسې ته حکم کوم د الله تعالی نه په ویره کولو باندې، او د حاکم (واکمن)**

**په اطاعت باندې او اګر که دا امیر یو حبشي غلام هم وي، ځکه څوک چې ستاسې نه ژوند کوي نو خامخا به ډیر اختلاف ووېني نو تاسې زما په طرېقو باندې کلکې منګولی ولګوئ او زما نه وروسته د هدایت موندونکو خلیفه ګانو په طرېقو باندې منګولې ولګوئ، تاسې په هغې باندې ځان کلک کړئ او د ژامې غاښونه پرې ولګوئ، او ځان وساتئ په دین کې د نویو طرېقو نه، ځکه هر یو نوی کار په دېن کې بدعت دی او هر یو بدعت ګمراهي ده].**

ابو داود، ترمذي او ابن ماجه روایت کړی دی او ترمذي ورته صحیح ویلی دی.

**88.** او د ابن ماجه په بل روایت کې دي:

**[ببشکه ما تاسې په سپينه لاره پرېښې ياست داسې لاره چې شپه يې د ورځې په شان رڼا ده، نه کږېږي د هغې نه مګر هلاکېدونکی شخص، او څوک چې ستاسې نه ژوند کوي نو خامخا به ډېر اختلافات ووينې...]**

بيا يې په خپلې معنی سره ذکر کړ.

**89.** او مسلم د جابر رضي الله عنه څخه روايت نقل کړی هغه فرمايې :رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

**[د الله تعالی د حمد او ثنا څخه وروسته، ببشکه په خبرو کې غوره د الله تعالی کتاب دی، او غوره ښودنه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم ښودنه ده، او بد په کارونو کې نوی کار دی او هر يو بدعت ګمراهي ده].**

**.90** او امام بخاري د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت رانقل کړی هغه فرمايي :رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**[زما ټول اُمت به جنت ته ننوځي مګر هغه څوک چې انکار يې کړی وي].**

وويل شو :**او چا انکار کړی؟.**

پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل :**چا چې زما تابعداري وکړه نو دا کس به جنت ته ننوځي، او چا چې زما نا فرماني وکړه نو بېشکه دې سړي جنت ته د ننوتلو نه انکار وکړ].**

**.91** او امام بخاري او مسلم روايت نقل کړی له انس- رضی الله عنه -څخه هغه فرمايي : [د پيغمبر صلی الله بيبيانو ته د درې کسانو ډلګۍ راغله د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د عبادت او بنده ګۍ پوښتنه يې کوله، نو کله چې بيبيانو هغوی ته د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د عبادت خبر ورکړ نو

ګویا کې هغوی دغه کم وګڼلو، نو ویې وېل :مونږ چېرته پېغمبر صلی الله علیه وسلم ته رسېدلی شو ببښکه هغه ته مخکني او وروستني ټول ګناهونه ببنل شوي، نو یو لدوی نه ووېل :هر چې زه یم نو د همېش لپاره به ټوله شپه لمونځ کوم، او بل ووېل : زه به د ورځې روژه نېسم او بوزه کېږم به نه، او بل ووېل :زه د ښځو نه جدا کېږم نو هېڅکله به ښځه ونه کړم، نو پېغمبر صلی الله علیه وسلم دوی ته راغی او ورته ویې وېل : **[تاسو هغه کسان یاست چې داسې خبرې مو کړي !خبردار ! په الله تعالی مې دی قسم وي زه ستاسو څخه د الله تعالی نه ډېر ډارېږم لېکن زه روژه هم نېسم او بوزه کېږم هم، د شپې لمونځ هم کوم او وېده کېږم هم، او ښځې هم کوم نو څوک چې زما له سنتو نه بېزاره شو نو دا کس زما امتي نه دی].**

92. او له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې ببشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمابلي:

**[اسلام ناآشنا (په لږو پیروانو) پیل شوی او ژر به بېرته هماغسې نا اشنا شي (پیروان او مرسته کوونکي به يې لږ شي) څنګه چې پیل شوی و، نو لږکيو ته خوشحالي ده].**

(دا حديث) مسلم روايت کړی دی

93. او د عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه فرمايي :رسول الله- صلی الله عليه وسلم -فرمابلي دي:

**له تاسو يو هم تر هغه بشپړ ايمان نه شي راوړی تر څو يې خپله نفسي غوښتنه د هغه څه تابع نه وي کړځولي چې زه ورسره راغلی یم.**

بغوي په (شرح السنة) کې روايت کړی او نووي ورته صحيح ويلی.

**94.** او له هم دې ښخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: **[هرومرو به زما پر امت هغه څه راشي لكه پر بني اسرائيلو چې راغلي وو، لكه يوه پښه د بلې په څير، تر دې چې كه له هغوى ښخه يو په علني توګه خپلې مور ته راتګ كړى وي، نو زما په امت كې به هم څوک وي چې داسې به وكړي، او بني اسرائيل په دوه اويا (٧٢) ډلو وېشل شوي وو، او زما امت به په درې اويا ډلو ووېشل شي، ټولې به په اور كې وي مګر يوه ډله]**.

هغوى وفرمايل :**هغه يوه ډله څوک دى د الله تعالى پيغمبره؟**.

هغه وفرمايل :**[دا هغه ډله ده چې په هغه لاره روانه وي چې زه او زما ملګري پرې روان دي]**.

دا حديث ترمذي روايت كړى.

**95.** او امام مسلم د ابو هريره رضي الله عنه نه مرفوع روايت نقل کړی:

**[چا چې د نېکۍ طرف ته بلنه او دعوت وکړ نو دې لره به همدومره ثواب وي لکه څومره ثواب چې د هغه چا دی چې د دې تابعداري یې وکړه په نیکۍ کې د هغوی د ثوابونو نه به هيڅ شي هم نشي کمېدلی، او چا چې د ګمراهۍ طرف ته بلنه او دعوت وکړ نو د دې به دومره ګناه کيږي لکه څومره چې د هغه چا کيږي چې د دې تابعداري يې کړې د هغوی د ګناهونو نه به هيڅ هم نشي کمېدلی].**

**96.** او امام مسلم د ابو مسعود الأنصاری رضي الله عنه څخه روايت نقل کړی هغه فرمايلي :[يو سړی پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته راغی ورته يې وويل :بېشکه زه په لاره کې ابسار شوی يم نو ما ته يوه سورلۍ راکړه چې زه پرې سفر وکړم، پيغمبر صلی الله عليه وسلم ورته ووېل :ما سره

سورلۍ نشته، نو یو بل کس ووېل :ای د الله تعالی پېغمبره زه به ورته یو داسې کس وښايم چې دې ته د سفر لپاره سورلۍ ورکړي، پېغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمايل:

**[چا چې د يو خير كار لارښوونه وكړه نو دې لره د هغه خير كار د كوونكي پشان ثواب دی].**

**97.** او له عمرو بن عوف رضي الله عنه څخه مرفوعا روايت دی:

[چا چې زما نه وروسته زما یوه مړه (د خلکو نه هیره شوې) طريقه راژوندې کړه نو د دې لپاره د هغو خلکو د ثوابونو په اندازه ثوابونه دی چې کوم خلک په دې باندې عمل وکړي په داسې حال کې چې د دغه خلکو د ثوابونو نه به هيڅ شی هم نشي کمېدلی، او چا چې په دين کې داسې يو نوی کار راپیداکړ چې الله تعالی او د هغه رسول يې نه خوښوي نو ببشکه په دې کس باندې ګناه د هغو خلکو ده چې دا بدعت کوي په داسې حال کې چې

د دغه خلکو د ګناهونو نه به هیڅ شی هم نشي کمېدلی].

ترمذي روایت کړی او حسن يې ورته ویلی، او ابن ماجه هم روایت کړی- او دا لفظ د هغه دی.-

**98.** او له ابن مسعود- رضي الله عنه -نه روایت دی، هغه ویلي:

[ستاسې به څه حال وي کله چې په داسې فتنو اخته شئ چې ماشوم پکې غټېږي، او لویان پکې زړېږي، او د دې نه خلک د سنت طریقه جوړه کړي چې په هغه باندې به روان وي، نو کله چې د دې نه څه شی بدل شي نو ویل کېږي به چې :سنت طریقه پرېښودل شوه، پوښتنه وشوه چې دا به کله وي ای ابو عبد الرحمن؟ هغه ووېل :کله چې ستاسې قاریان ډیر شي، او فقها (په دین پوهه خلک) مو لږ شي، او مالونه مو زیات شي، او امانتدار خلک مو کم شي، او خلک د اخرت په کار باندې دنیا

حاصلول شروع کړي، او د دين نه پغير د بل هدف لپاره پوهه حاصله کړى شي].
دا حديث دارمي روايت کړى دى.

**99.** او د زياد بن حدير رضي الله عنه څخه روايت دى هغه فرمايي :ما ته عمر رضي الله عنه وفرمايل :آيا ته پوهېږې چې کوم شى اسلام ورانوي؟ ما ورته ووېل :نه، هغه وفرمايل :د عالم سړي اشتباه (بنويدنه)، د منافق سړي په قرآن باندې جګړه، او د ګمراهانو واکمنانو فېصلې يې ورانوي].
دا هم دارمي روايت کړى.

**100.** او د حذيفه رضي الله عنه څخه روايت دى هغه فرمايي :[هر عبادت چې د محمد صلى الله عليه وسلم ملګري يې نه کوي، نو تاسو يې هم مه کوئ، ځکه مخکينيو وروستنيو ته هيڅ خبره نده پرېښې،

نو ای د قاريانو ټوليه له الله نه ووېرېږئ او د هغو خلکو لاره ونيسئ چې ستاسې نه مخکې وو].

ابوداود روايت کړی دی.

**101.** او د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي: څوک چې ستاسې نه پيروي کوي نو د هغه چا پيروي دې وکړي چې مړه شوي، ځکه په ژوندو باندې په فتنو کې د واقع کېدلو امکان شته، دغه خلک د محمد صلی الله عليه وسلم ملګري د دې امت د ټولو نه بهترين انسانان وو، او د ژور علم والا وو، او د لږ تکلف والا وو، الله تعالی د خپل پيغمبر د ملګرتيا او د هغه د دين د قايمولو لپاره غوره کړي دي، نو د هغوی په غوره والي اعتراف وکړئ، او په هغوی پسې روان شئ، او د خپل وس مطابق د هغوی اخلاق او کردار راټينګ کړئ، ځکه بېشکه هغوی په نېغه لاره باندې وو.

رزين روايت کړی.

**102.** او د عمرو بن شعیب نه روایت دی هغه د خپل پلار نه روایت کوي هغه د دې د نېکه نه روایت کوي فرمايي : پېغمبر صلی الله علیه وسلم د یو قوم باره کې واورېدل چې په قرآن کریم کې جګړه کوي، نو ویې فرمايل: **[ببشکه ستاسې مخکې امتونه په دې وجه باندې هلاک شوي، د الله تعالی کتاب یې په خپل منځ کې ټکراو کړی، بلکې د الله تعالی کتاب خو رانازل شوی په داسې حال کې چې ځینې آیتونه د نورو آیتونو تصدیق کوي نو تاسې یې د ځېنو آیتونو نه د نورو آیتونو په وجه انکار مه کوئ، نو په کوم څه چې ترې پوهېږئ نو ویې وایئ، او په کوم چې نه پوهېږئ نو هغه چا ته یې پرېږدئ چې پوهېږي پرې].**

احمد او ابن ماجه روایت کړی دی

******

## باب دی په باره د تېزي ورکولو کې په حاصلولو د علم او په طريقې د حاصلولو يې

**103.** په دې باره کې د دوو صحيحو کتابونو (بخاري او مسلم) حديث دی د قبر د تپوسونو باره کې **[نو بېشکه کوم انسان چې نعمتونو کې وي هغه وايي :مونږ ته ښکاره آيتونه او هدايت راغلی و نو مونږ پرې ايمان راوړ او په ځان مو واجب کړ او د هغه تابعداري مو وکړه، او چا ته عذاب ورکول کېږي هغه به وايي :ما د خلکو نه اورېدلي وو چې يو څه به يې ويل نو ما هم هماغه شان ووېل]!**

**104.** او په بخاري او مسلم کې دي؛ له معاوية رضي الله عنه څخه روايت دی چې بېشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

**[د چا لپاره چې الله تعالی د خير اراده وکړي نو په دين کې ورته پوهه ورنصيب کړي].**

**105.** او په بخاري او مسلم کې دي؛ له ابو موسی رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمايي :رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:

**[زه چې الله تعالی په کوم هدایت او علم سره رالیږلی یم د هغه مثال داسې دی لکه ډیر باران چې یوې ځمکې باندې ووریږي، نو ځینې ځمکه ښه وي نو د باران اوبه جمع کړي نو زیاتې ګیاګانې او شینکي پکې راشنه شي، او ځینې د دې نه سخته وچه وي فصل پکې نه کیږي مګر اوبه را ایساري کړي نو الله تعالی پرې خلکو ته فایده ورسوي او خلک یې وڅښي او خپل فصلونه پرې خړوب کړي او ویې کري، او دا باران د ځمکې داسې یوې برخې ته هم ورسیږي چې هغه بالکل شړه ډاګه وي چې نه اوبه ساتي او نه پکې ګیاه راشنه کیږي، نو دا مثال د هغه چا دی چې د الله تعالی په دین باندې ځان پوهه کړي او ما چې کومه وحې راوړې هغه ورته فایده ورسوي نو په خپله**

**يې هم زده کړي او نورو ته يې هم وښايي، او دا مثال د هغه چا دی چې ببخي په دې باندې ځان خبر هم نه کړي او نه دالله تعالی هغه ښودنه قبوله کړي چې زه پرې الله تعالی راليږلی يم].**

**106.** او امام بخاري او مسلم له عاېشې رضي الله عنها څخه مرفوع روايت نقل کړی:

[کله چې تاسې ولېدل هغه کسان چې تابعداري کوي د متشابهاتو نو دا هغه خلک دي چې الله تعالی په دې آيتونو کې ياد کړي، نو د دوی څخه ځان وساتئ].

**107.** او له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي :رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي :**[زما نه مخکې الله تعالی هيڅ پيغمبر يو امت ته ندی راليږلی مګر هغه لره د هغه د امت نه ملګري او خاص ملګري (حواريان) وو چې د هغه په سنتو يې عمل کاوه، او د هغه په حکم پسې يې اقتدا کوله، بيا د هغوی نه وروسته**

**د دوی داسې ناکاره خلیفه ګان (وارثان) راغلل چې وايي يو څه؛ او کوي يې نه، او هغه څه کوي چې امر ورته نه وي شوی، نو چا چې د دوی سره په لاس جهاد وکړ، نو دا مومن دی، او چا چې ورسره په ژبه جهاد وکړ، نو دا هم مومن دی، او چا چې ورسره په زړه باندې جهاد وکړ نو دا هم مومن دی، او د دې نه وروسته د سپېلني د دانې په اندازه ايمان هم نشته].**

(دا حديث) مسلم روايت کړی دی

**108.** او د جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې بېشکه عمر رضي الله عنه ووېل :ای د الله تعالی پېغمبره مونږ د يهودو نه څه خبرې اورو نو هغه مونږ ته ښې ښکاره شي نو آيا ته مونږ ته اجازه کوې چې ځېني د دوی نه ولېکو؟ !پېغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**[آيا تاسې حيران ياست لکه څرنګه چې يهود او نصارى حيران وو !بېشکه ما تاسې ته پاک ښاېسته دين راوړى، او که چېرته موسى ژوندى وى نو هغه لره به هم بله چاره نه وى مګر دا چې زما تابعداري وکړي].**

داحديث امام احمد روايت کړى دى

**109.** او له أبو ثعلبه خشني رضي الله عنه څخه مرفوعا روايت دى:

[بېشکه الله تعالى څه شيان فرض کړي دي نو تاسې يې مه ضايع کوئ، او ځېني پولې يې ټاکلي نو د هغوى نه مه اوړئ، او څه شيان يې حرام کړي نو تاسې هغه مه کوئ، او د څه شيانو نه غلى شوى په تاسې د مهربانۍ له وجې؛ نه دا چې هېر شوى ترې دى نو تاسې د هغه پلټنه مه کوئ].

حديث حسن دى دار قطني او نورو روايت کړى.

**110.** په صحیح بخاري او مسلم کې له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

**[ما چې تاسې د څه شي نه منع کړي یاست نو د هغه نه ځان وساتئ، او ما چې تاسې ته په څه شي امر کړی نو هغه د خپلې وسې مطابق وکړئ، ځکه ستاسې نه مخکې خلک د ډېرو پوښتنو او د هغوی د خپلو پیغمبرانو د مخالفت او نا فرمانۍ له وجې هلاک شوي].**

**111.** او د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی هغه فرمایي :رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**[الله تعالی دې هغه بنده ترو تازه کړي چې زما خبره واوري نو یاده یې کړي او د ځان سره یې وساتي، او بیا یې بل چا ته ورسوي، نو کله نا کله**

**يو كس سره علم وي خو فقيه نه وي، او كله نا كله د يو علم باروونكى هغه چا ته علم ورسوي چې د دې نه ډېر پوهه وي، درې داسې شيان دي چې په هغو سره د مسلمان په زړه كې حسد او دوكه نه پاتې كيږي :خپل عمل الله تعالى ته خاص كول، مسلمانانو ته خيرخواهي كول، او د مسلمانانو د ټولې سره ځان تړل، ځكه د دوى دعا د دوى نه ګېرد چاپېره راتاوو وي.**

شافعي او بېهقي په (المدخ) كې روايت كړى.

**112.** او احمد، ابو داود، او ترمذي د زيد بن ثابت رضي الله عنه څخه روايت كړى.

**113.** او د عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دى هغه فرمايي :رسول الله- صلى الله عليه وسلم -فرمايلي دي:

**[علم درې شيان دي :محکم آيتونه، او يا د پيغمبر صلى الله عليه وسلم نه ثابت سنت، او يا يو فرضي حکم چې په قرآن او حديث باندې ولاړ وي (ثابت وي)، او د دې نه بغير نور علمونه زياتي دي پوهېدل يې ضروري ندي].**

دا حديث دارمي او ابو داود روايت کړی.

**114.** او د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی هغه فرمايي :رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**[چا چې قرآن کريم کې خپله رايه استعمال کړه نو ځان لره دې په جهنم کې خپل ځای تيار کړي].**

دا حديث ترمذي روايت کړی.

**115.** او په بل روایت کې دي:

**[چا چې د قرآن کریم باره کې پرته له پوهې نه یو څه ووېل نو د خپل ځان لپاره دی په جهنم کې ځای تیار کړي].**

دا حدیث ترمذي روایت کړی.

**116.** او له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه فرمايي :رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:

**[چا چې لهپوهې نه پرته فتوی ورکړه نو د دې ګناه په هغه چا ده چې فتوی يې ورکړې، او چا چې خپل يو مسلمان ورور ته د غلطې لارې مشوره ورکړه نو ببشکه چې خیانت يې ورسره وکړ].**

ابو داود روایت کړی دی.

**117.** او له معاوية رضي الله عنه څخه روایت دی چې [ببشکه پیغمبر- صلی الله علیه وسلم -د

داسې پوښتنو څخه منع کړې چې د علماوو د غلطولو په خاطر پوښتل کيږي].

ابو داود هم روايت کړی.

**118.** او د کثير بن قيس څخه روايت دی هغه فرمايي : زه د ابو درداء رضي الله عنه سره د دمشق په جومات کې ناست وم، نو يو سړې راغی او ويې وېل :ای أبو درداء !زه تا ته د پېغمبر صلی الله عليه وسلم د ښار (مدينې منورې) څخه راغلی يم، د يو حديث له وجې چې ما ته ستا څخه رارسېدلی و چې ته يې د پېغمبر صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوې او زه ستاسره نور هيڅ کار هم نه لرم، هغه وفرمايل :ما د پېغمبر صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې هغه فرمايل:

**[چا چې داسې يوه لاره ونبوله چې علم يې پکې حاصلاوه؛ الله تعالی به يې د دې په وجه د جنت په لاره بوځي، او بېشکه ملايکې د خوشحالۍ له وجې خپلې وزرې طالب العلم ته ږدي، او بېشکه عالم**

**لره تېول هغه څوک بخښنه غواړي چې په اسمانونو او ځمکو کې دي حتى ماهيان د اوبو په ببخ کې، او بېشکه د عالم سړي فضبلت په عابد باندې داسې دی لکه د څوارلسمې سپوږمۍ فضبلت په تېولو ستورو باندې، او بېشکه عالمان د پېغمبرانو وارثان دي، او پېغمبرانو په میراث کې دینار او درهم نه دي پرېښودي بلکې علم یې پرېښودی نو چا چې واخېسته نو هغه د پېغمبرانو د میراث نه لویه برخه واخېسته].**

امام احمد، دارمي، ابو داود، ترمذي او ابن ماجه روایت کړی.

**119.** او د ابو هریره رضي الله عنه څخه مرفوع روایت دی:

[ښه خبره او د حکمت خبره د مسلمان ورکه ده، هر چېرته چې یې بیاموندہ نو هغه د دې په اخېستلو ډېر حقدار دی].

ترمذي روايت کړی، او ويلي يې دي :دا غريب دی، او ابن ماجه هم روايت کړی.

**120.** [او د علي رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي :ببشکه يقيني فقيه هغه څوک دی چې خلک د الله تعالی د رحمت څخه نه نا امېده کوي، او د الله تعالی په نافرمانئ کې دوی ته اجازه نه ورکوي، او دوی د الله تعالی له عذاب څخه نه په امن کې کوي، او د قرآن نه د بېزارئ له وجې هغه نه پرېږدي، ببشکه په هغه بنده ګئ کې خير نشته چې علم ورسره نه وي، او نه په هغه علم کې چې پوهه ورسره نه وي، او نه په هغه تلاوت کې چې سوچ او فکر ورسره نه وي].

**121.** او د حسن- رضي الله عنه -څخه روايت دی هغه فرمايي :رسول الله- صلى الله عليه وسلم - فرمايلي:

**[چا لره چې مرګ راغی په داسې حال کې چې هغه د دې لپاره علم حاصلاوه چې اسلام پرې راژوندی**

**كړي نو د دي او د پېغمبرانو ترمنځ به په جنت كې يوه درجه فرق وي].**

دا دواړه روايتونه درامي روايت كړي.

******

## باب دى په باره د علم ټولولو كې

**122.** او له ابو درداء رضي الله عنه څخه روايت دى هغه فرمايي :[مونږ د پيغمبر صلى الله عليه وسلم سره وو نو اسمان ته يې پورته وكتل، بيا يې ووېل :**دا هغه وخت دى چې په دې كې د خلكو نه علم راټولېږي تر دې چې د دوى سره به هيڅ شى هم پاتى نشي].**

ترمذي روايت كړى.

**123.** او له زياد بن لبيد رضي الله عنه څخه روايت دى هغه فرمايي : [پيغمبر - صلى الله عليه

وسلم -يو شی ياد کړ، نو ويې وېل : **دا د علم د تللو وخت دی**، ما ورته ووېل :ای د الله تعالی پېغمبره ! علم به څنګه ځي او حال دا چې مونږ قرآن کريم پخپله هم لولو او خپلو بچيانو ته يې هم ورښايو او زمونږ بچيان به يې د قيامت د ورځې پورې خپلو بچيانو ته ورښايي؟ هغه وفرماېل : **مور درباندې بوره شه ای زياد !ته خو ما ته په مدينه کې تر ټولو ډير پوهه سړی ښکارېدې، آيا دا يهود او نصاری تورات او انجيل نه لولي حال دا چې په هغو کې په هيڅ باندې هم عمل نه کوي؟].**

احمد او ابن ماجه روايت کړی دی

**124.** له ابن مسعود- رضي الله عنه -نه روايت دی، هغه ويلي:

[تاسې علم حاصل کړئ مخکې له دې چې علم راټول شي، او د هغه راټولېدل دا دي چې علما له دنيا نه لاړ شي، تاسې علم حاصل کړئ ځکه ستاسې نه يوکس نه پوهېږي چې کله يې ورته ضرورت راځي او يا دې ته کله د خلکو ضرورت راځي، او خامخا تاسې به داسې قومونه بيامومئ چې هغوی به دا ګمان کوي چې دوی د الله کتاب ته خلک رابلي او حال دا چې دوی به د الله تعالی کتاب شاته پرېښی وي، تاسې علم حاصل کړئ او په دين کې د نويو طريقو جوړولو، او په يو کار کې د مبالغې او ډېرو ننوتلو نه ځان وساتئ، او تاسې پخوانی دين (دسلفو لاره) راټينګه کړئ].

دارمي د دې په شان روايت کړی.

**125.** او په بخاري او مسلم کې د عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما نه مرفوع روايت دی:

[بېشکه الله تعالی داسې علم نه راټولوي چې د بندګانو نه يې راوباسي، بلکې علم د علماو په مړينې

سره راټولوي، تر دې چې هيڅ يو عالم پاتې نشي نو خلک جاهلان خپل مشران وټاکي، نو د هغوی نه به پوښتنې وشي، هغوی به پغير د علم نه جواب ورکړي نو خپل ځان يې هم ګمراه کړ او نور خلک يې هم ګمراه کړل].

**126.** او د علي- رضي الله عنه -څخه روايت دی هغه فرمايي :رسول الله- صلى الله عليه وسلم - فرمايلي:

**[نږدې ده چې په خلکو باندې به داسې يو وخت راشي چې د اسلام به صرف نوم پاتي شي، او د قرآن کريم به يواځې لېکل پاتی شي، جوماتونه به يې د آبادئ د لحاظه اباد وي خو د هدايت د لحاظه به خراب وي، د دغې زمانې علما به د اسمان لاندې په ټولو مخلوقاتو کې شر ترين مخلوق وي، د دوی نه به فتنې جوړيږي او په دوی کې به بېرته واپس کيږي].**

بيهقي په شعب الايمان کې روايت کړی.

******

## باب دی په باره د سختی کولو کې د هغه چا باره کې چې شرعي علم د مناظرو او جګړو لپاره کوي.

127. د کعب بن مالک- رضی الله عنه -څخه روایت دی هغه فرمايي :رسول الله- صلی الله علیه وسلم -فرماېلي دي:

**[چا چې د دې لپاره علم وکړ چې د علماوو سره پرې مقابله وکړي او یا پرې د کم عقلو خلکو سره جګړه وکړي او یا پرې د خلکو مخونه ځان ته راواړوي نو الله تعالی به یې اور ته داخل کړي].**

ترمذي روایت کړی

128. او له ابو امامة رضي الله عنه څخه مرفوع روایت دی:

[هیڅ یو قوم د هدایت نه وروسته ندی ګمراه شوی مګر جګړې پکې پیداشوي] .بیا یې د الله تعالی دا وینا ولوستله :[دوی تا ته دا (مثال) بیان نه کړ مګر د جګړې لپاره، بلکې دوی ډېر جګړه کوونکی قوم دی] .الزخرف سورت 58 :آیت

احمد، ترمذي او ابن ماجه روایت کړی دی.

**129.** او د عایښې رضي الله عنها څخه روایت دی هغه فرمايې :رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:

**[بېشکه الله تعالی ته په ټولو سړو کې مبغوض ترین انسان سخت جګړه کوونکی دی].**

دا حديث امام بخاري او امام مسلم روایت کړی.

**130.** او د ابو وائل نه روایت دی هغه د عبد الله رضي الله عنه څخه روایت کوي فرمايلي يې دي : چا چې علم د دې څلورو کارونو لپاره وکړ الله تعالی به يې اور ته داخل کړي- يا يې د دې په شان ووېل- » :چې د علماوو په مقابل کې پرې فخر او ځان ښودنه وکړي، او يا چې د کم عقلو خلکو سره پرې جګړه وکړي، او يا داچې د خلکو مخونه پرې خپل ځان ته راواړوي، او يا چې د چارواکو نه پرې څه دنيا واخلي.

دا حدیث دارمي روایت کړی دی

**131.** او د ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی، هغه یو قوم ته چې اوریدلی یې وو په دین کې یو بل سره لانجې کوي وویل :آیا تاسو نه پوهیږئ چې د الله رب العالمین داسې بندګان شته چې نه ګونګیان دي او نه کاڼه دي، بلکې د الله رب العالمین ویرې غلي کړي، او بېشکه خاص دوی عالمان دي فصیحان دي، ازاد او هوښیار خلک دي، په پخوانیو امتونو کې د الله تعالی په عذابونو او نعمتونو باندې پوهه دي، مګر کله چې دوی د الله تعالی لویي را په یاد کړي عقلونه یې والوځي او زړونه یې مات شي، او د دوی ژبې پرې شي (بندې شي)، کله چې دوی د دې حالت څخه راوېښ شي الله تعالی ته په تلوار سره په نېکو او ښایسته عملونو سره وروګرځي، خپل ځانونه کمتر ګڼي، او حال دا چې دوی هوښیاران او قوي دي، ځانونه ورته بې لارې او ګناهګار ښکاري حال دا چې دوی نېکان او پاک

لمني دي، په حقيقت کې ببشکه دوی خپل ډېر اطاعات او عبادات ډېر نه ګڼي، او د الله تعالی لپاره په لږ عبادت نه راضي کيږي، او په خپلو اعمالو فخر نه کوي، کله که دی ورسره ملاقات وشي نو دوی به د الله په عبادات ډېر اهتمام کوي، او د الله رب العالمين دعذاب نه به ويريدونکي وي.

ابو نعيم روايت کړی دی

**.132** حسن- د يو قوم باره کې چې هغه اورېدلي وو چې دوی په دين کې جګړي کوي -ويلي :[دا داسې يو قوم دی چې عبادت يې ستړي کړي، او وينا کول ورته اسان ښکاره شوي، او د دوی تقوی او د الله تعالی نه وېره کمه شوې نو خبرې يې شروع کړې].

******

## باب دی په باره د اختصار کولو په خبرو کې او د تکلف او ډيرو ژورو خبرو پرېښودل.

**133.** او له ابو امامة رضي الله عنه څخه مرفوع روايت دی:

[حيا او ډېرې خبرې نه کول د ايمان له شعبو څخه دي، او بده ژبه خوځول او ډيرې خبرې کول د نفاق له شعبو څخه دي].

دا حديث ترمذي روايت کړی.

**134.** او له ابو ثعلبه - رضي الله عنه - څخه روايت دی، چې بېشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

**[په تاسو کې ما ته محبوب او د قيامت په ورځ به راته په مجلس کې نږدې هغه څوک وي چې**

**ښايسته اخلاق لري، او په تاسو کې ما ته مبغوض ترين او د قيامت په ورځ به رانه په مجلس لرې هغه څوک وي چې ډېرې خبرې کوي او هغه څوک چې متکبره وي].**

بيهقي په شعب الايمان کې روايت کړی.

**135.** او ترمذي د دې په شان د جابر رضي الله عنه څخه روايت کړی.

**136.** او د سعد بن أبي وقاص - رضي الله عنه - څخه روايت دی هغه فرمايي :رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**[تر هغه وخته به قيامت نه قايمېږي تر څو چې داسې يو قوم راپيدا نشي چې په خپلو ژبو به داسې خوراک کوي لکه غواګانې چې په خپلو ژبو باندې ځرنګه خوراک کوي].**

دا حديث امام احمد، ابو داود او ترمذي روايت کړی.

137. او د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه مرفوع روایت دی:

[بېشکه د الله رب العالمین هغه بلیغ او فصیح انسان بد راځي چې په خبرو کې د غوا په شان خپله ژبه اړوي را اړوي].

ترمذي او ابو داود روایت کړی.

138. او د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه فرمایې :رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**[چا چې د خبرو اړول راړول د دې لپاره زده کړل چې د خلکو او یا سړیو زړونه پرې ځان ته مایله کړي، الله رب العالمین به ترینه د قیامت په ورځ هیڅ فرضي او یا نفلي عبادت قبول نه کړي]**

ابوداؤد روایت کړی دی.

**139.** او له عايشي رضي الله عنها نه روايت دي هغه فرمايي :[د رسول الله صلى الله عليه خبرې جدا جدا وې هر اورېدونکی به پرې پو هېده، او (عاېشي رضي الله عنها) ويلي :هغه به مونږ ته داسې جدا جدا خبرې کولې که چا غوښتلی چې وېې شماري نو شمېرلی يې شوې، او عائشه رضی الله عنها وايي :بېشکه هغه به ستاسې په شان يو ځای خبرې نه کولې].

ځينې يې ابو داود روايت کړي.

**140.** او له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې بېشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

**[کله چې تاسې يو کس ووينئ چې په دنيا کې بې رغبته وي او لږې خبرې کوي نو دې ته نږدې شئ، ځکه ديته حکمت ورکول کيږي].**

بيهقي په شعب الايمان کې روايت کړی.

**141.** او د بريده رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي :ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرمايل يې:

**[بېشکه ځېني د بيان نه جادو وي، او ځېني د علم نه ناپوهي وي، او ځېنې د شعر څخه حکمت وي، او ځېني له ويناوو څخه ګناه وي].**

**142.** او د عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت دی [بېشکه هغه يوه ورځ يو څه ووېل نو يو کس ودرېده او خبره يې اوږده کړه، نو عمرو رضي الله عنه ووېل :که دا خبره يې لنډه کړی وی نو دا به د ده لپاره ډېره غوره وی، ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې ويل يې : »بېشکه زه ښه ګڼم- يا ما ته امر شوی -چې خبرې لنډې کړم، ځکه په خبرو کې لنډوالی ډير غوره وي].

دا دواړه ابوداؤد روايت کړي دي.

# پای، ټول ثنا او صفتونه خاص الله تعالى لره دي زيات صفتونه.

# فهرست

باب دې په بيان د پېژندلو د الله تعالى کې او په هغه باندې ايمان راوړلو کې: ........ 3

باب دی په باره د الله تعالى د دې قول کې: ﴿وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمَاوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ ۚ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾ [الزمر:67] ........ 25

باب دی په باره د ايمان لرلو په تقدير باندې ........ 33

باب دی په بيان د ذکر د ملايکو عليهم السلام او په هغوی باندې ايمان لرل ........ 49

دا ځېرکی د الله تعالى د هغه حکم په اړه دی چې د کتاب په اړه يې کړی دی ........ 74

باب دی په بيان د حقوقو د پېغمبر صلى الله عليه وسلم کې: ........ 85

باب دی په باره د هڅولو د پېغمبر صلى الله عليه وسلم پخپلو سنتو باندې کلکوالي ته او د دې باره کې ترغيب ورکول، او د بدعت، ډلو ټپلو او خپل منځي اختلافاتو نه خلک ويرول او هغوی ته اخطار ورکول ........ 88

باب دی په باره د تېزي ورکولو کې په حاصلولو د علم او په طريقې د حاصلولو يې ........ 103

باب دی په باره د علم تولولو کې ........................................ 115

باب دی په باره د سختی کولو کې د هغه چا باره کې چې شرعي علم د مناظرو او جګړو لپاره کوي ........................................ 119

باب دی په باره د اختصار کولو په خبرو کې او د تکلف او ډیرو ژورو خبرو پر پېښودل ........................................ 124